# په اسلامي شریعت کې
# د رزق (روزۍ) زیاتیدو لارې

لیکوال: پوهنیارنور الله توحیدي
د شرعیاتو پوهنځي استاد

# سریزه

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، الْجَوَادِ الْكَرِيمِ، ضَامِنَ أَرْزَاقَ الْعالمين، وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلهَ إِلاَّ هو وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، القائل في محكم تنزيله: {وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لاَ يَحْتَسِبُ * وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ}[115] وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله، حث على الأكل من الحلال وحذر من أكل الحرام حيث قال في الحديث القدسي: (أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لاَ يَقْبَلُ إِلاَّ طَيِّبًا وَإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ فَقَالَ: {يَاأَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ}[116] وَقَالَ: {يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ}[117] ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ يَا رَبِّ يَا رَبِّ وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ)،[118] صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم تسليمًا كثيراً. أما بعد :

هر انسان ته روزي لېکل شوي ده، او هيڅ څوک د بل چا د روزۍ مانع نشي ګرځيدلای، او تر هغې به له دنيا څخه سترګې پټې نه کړي تر څو چې يې خپله روزي نه وي پوره کړې؛ الله – جل جلاله- فرمايي: {وفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونْ}(119) ژباړه: او ستاسې روزي او څه چې درسره وعده کيږي (ټول) په آسمان کې دي. او رسول الله –صلى الله عليه وسلم- فرمايي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بن مسعود - رضي الله عنه - قَالَ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ الصَّادِقُ الْمَصْدُوقُ إِنَّ أَحَدَكُمْ يُجْمَعُ خَلْقُهُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا ثُمَّ يَكُونُ فِي ذَلِكَ عَلَقَةً مِثْلَ ذَلِكَ ثُمَّ يَكُونُ فِي ذَلِكَ مُضْغَةً مِثْلَ ذَلِكَ ثُمَّ يُرْسَلُ الْمَلَكُ فَيَنْفُخُ فِيهِ الرُّوحَ وَيُؤْمَرُ بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ بِكَتْبِ رِزْقِهِ وَأَجَلِهِ وَعَمَلِهِ وَشَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ فَوَالَّذِي لاَ إِلَهَ غَيْرُهُ إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتَّى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلاَّ ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ فَيَدْخُلُهَا وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ حَتَّى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلاَّ ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيَدْخُلُهَا.(120)

---

(115) د الطلاق سورت (2- 3).

[116] د المؤمنون سورت (۵۱).

[117] د البقره سورت (۱۷۲).

[118] مختصر «صحيح مسلم د امام أبي الحسين مسلم بن الحجاج القشيري النيسابوري» د منذري کتاب، د ابوهريره په روايت،۱/ ۱۴ د حديث شميره (۵۴۰)

[119] د الذاريات سورت (۲۲).

[120] ) رواه مسلم ۴/ ۲۰۳۶، د حديث شميره (۲۶۴۳).

ژباړه: عبدالله بن مسعود-رضي الله عنه-وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم-موږ ته وفرمايل چې: هر يو تن له تاسو د مور په ګېډه کې څلويښت ورځې نطفه وي،بيا همدومره وخت کلکه وينه وي، بيا همدومره وخت د غوښې بڅرکی وي،بيا ملائکه ورته وليږل شي او روح پکې پو کړي،او د څلورو کلمو امر ورته وکړی شي،د روزی،د مرګ نيته،عمل(کړنه)،نيک بخت او بدخت ولېکل شي، سوګند په هغه ذات چې پرته له هغه د عبادت وړ نشته هرو مرو يو له تاسو د د جنتيانو کړنه کوي تردې چې دده او د جنت په منځ کې يواځې يو ګز اندازه پاتي وي، کتاب پرې سبقت وکړي، د دوزخ والاو کړنه تر سره کړي، ورداخل شي،او بل تن له تاسو د دوزخيانو کړنه ترسره کوي،تردې چې دده او دوزخ تر منځ يواځې يو ګز اندازه وي، کتاب پرې سبقت وکړي نو د جنت والاو کړنه ترسره کړي،ور داخل شي.

پو ښتنه دا پيدا کيږي، داچې هر څه ليکل شوي وي نو موږ پکې کوم رول لرو؟ زموږ دنده به څه وي؟

ځواب: زموږ دنده يواځې هڅه، کوښښ او تلاش دی، الله -جل جلاله- فرمايي:{هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولاً فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا و كلوا من رزقه وَإِلَيْهِ النُّشُورْ}(121) ژباړه: دی هغه ذات دی چې تاسې ته يې ځمکه تابع کړې، تاسې يې په څنډو (يا لارو) کې ګرځئ او دهغه روزي خورئ او هماغه ته مو بيا ژوندي راپورته کېدل دي.

په نوموړي آيت کې د روزی لپاره هڅې، تالاش او کوښښ ته اشاره شوي ده، حقيقي رزق ورکوونکی خو الله پاک دی، ولې انسان سر په زنګون کينږدي،بلکې ټول وسايل به په کار اچوي بيا به په الله توکل کوي.

د يادي موضوع اهميت او ارزښت په دې کې دی چې د انسان له خورا مهمو اړتياو څخه يو هم روزي(رزق) او خواړه دي، ځکه چې انسان کله هم خوړو ته لاسرسی ونه لري نو د ژوند ټول کارونه يي په ټپه ودريږي او پر وړاندې حرکت نشي_ کولای،آن د مرګ له ګوانښ سره يې مخ کوي، په بل اړخ کې ښه روزي انسان ته آرام او هوساينه ښښي،او د ژوند ټول کارونه يي په ښه ډول مخې ته ځي، موږ وينو چې ټول انسانان شپه او ورځ په دې کې بوخت دي چې څنګه روزي لاسته راوړي؟ دعقيدې له اړخه بيوزلې کله د کفر سبب ګرزي، په يو

---

(121) د الملک سورت (۱۵).

روایت کې راځي رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمايي: (كَادَ الْفَقْرُ أَنْ يَكُونَ كُفْرًا)(122)
ژباړه: نږدې ده چې بېوزلي د کفر لامل شي.
دا جوته خبره ده چې روزي ته انسان زیاته اړتیا لري،که د روزۍ لاسته راوړلو لارې په سمه توګه ترتیب او تنظیم نشي- نو کیدای شي انسان ډیرو ناروا کړنو ته يې مجبورکړي، آن تر دې چې کیدای شي بيوزلي د انسان عقیده چیلنج کړي او د خپلولۍ پریښودو او ډیرو ناروا کړنو ته يې اړ کړي، انسان د هیواد پرېښودو ته اړ کړي، پوښتنه دا پیدا کیږي چې آیا کومه لاره شته چې انسان له دې زورونې خلاص کړي؟ آیا اسلامي شریعت کومه تګلاره لري چې کله هم انسان هغه خپله کړي له دې ستونزوبه راووځي؟
روزي ګټل هغه څیز دی چې نن سبا يي د ډیرو مسلمانانو ذهنونه مصروف کړي دي، انسان سره دا پوښتنه پیدا کیږي چې دې موخې ته به څنګه ورسیږم؟ د یو لړ خلکو څخه داسې اوریدل کیږي چې څوک په اسلام منګولي خښې کړي نو کیدای شي ډیري پیسې لاسته رانه وړي،او ځيني نور بيا په دې هم بسنه نه کوي، بلکې وايي: که غواړي ماديات لاسته راوړي او اقتصاد دي وده وکړي نو په ځینو اسلامي او دیني حکمونو باندې سترګې پټې کړه، دا ډول وګړي پردي نه پوهیږي چې الله -جل جلاله- دین یواځې ددې لپاره نه دی راستولی چې یواځې د اخرت په حالاتو پوه شي، او د هغې دنیا خوشحالي او سوکالي لاسته راوړي او بس، بلکې ددې لپاره يې هم رالیږلی دی چې انسان د دنیا ژوند باید څنګه جوړ کړي؟ او دې دنیا کې څنګه خوشحاله او سوکاله ژوند وکړي؟
که د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ژوند ته زیر شو وینو چې د هغه د ژوند په ډیری برخو کې دا لیدل کیږي چې دا دعا به يي زیاته ويله: عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: كَانَ أَكْثَرُ دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً، وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ»(123)
ژباړه: انس بن مالک -رضي الله عنه- وايي چې: د نبي -صلی الله علیه وسلم- زیاتره دعا دا وه: ای الله زمونږ پروردګاره په دنیا او اخرت کې ښه رانصیب کړه،او د جهنم له عذابه مو وساته.

(122) شعب الإيمان، د أنس بن مالک په روایت،۹/ ۱۲. د حدیث شمیره (۱٦۸۸)،د حدیث پوهانو په وینا اګر چې روایت ضعیف دی؛ ځکه چې د روایت په سند کې یزید الرقاشي شتون لري، او دا د حدیث پوهانو په نزد ضعیف بلل شوی دی، شیخ الباني په الجامع الصغیر کې د (۴۱۴۸) شمیرې باندې ذکر کړی دی ۱/ ۹٦۴)، او په سلسلة الأحادیث الضعیفة کې د (۴۰۸۰) شمیرې باندې ۹/ ۷۷، او د مشکاة المصابیح په تحقیق کې د حدیث شمیره (۵۰۵۱) ۳/ ۹۵
(123) متفق علیه. په صحیح بخاري کې د حدیث شمیره (٦۳۸۹)،او په صحیح مسلم کې د حدیث شمیره (۲٦۹۰) ده.

الله –جل جلاله- او دهغه رسول محمد –صلی الله علیه وسلم- اسلامې امت په تیارو کې نه دی پریخی، هر هغه څه چې د انسان د کامیابۍ سبب ګرځي روښانه کړي یي دي، آن تر دې چې د روزی په لاسته راوړلو کې یي هم دوي حیران نه دي پریخي، بلکې د رزق اسباب او وسایل یي ورته بیان کړي دي،که چیرته امت په هغې پوه شي او منګولي پري ښخې کړي او استعمال یي په ښه شکل وکړي نو رازق څښتن به ورته له هر اړخه د روزی لاري خلاصي کړي، او د زمکې او اسمان برکتونه به پري راخلاص کړي.

ومې غوښتل یاد سببونه د شریعت په رڼا کې له مسلمانانو ورونو سره شریک کړم، او څوک چې د هغې په فهم کې خطا شوي وي لارښوونه ورته وشي، او څوک چې د رزق په پلټلو کې له سمې لارې لري شوی وي خبر شي، د الله –جل جلاله- په توفیق سره مې دا عزم وکړ چې یو څو سببونه په ورقو کې په یو څو مطلبونو کې راټول او ورونو سره یي شریک کړم.

## لومړی مطلب: په الله-جل جلاله- او د هغه په مامور به شیانو ایمان لرل:

د الله تعالی په خپلو بندګانو کې عادت او طریقه داسي ده چې هغوی که په هغه او د هغه مامور به شیانو باندې ایمان ولري، او له حرامو څخه ځان وژغوري، الله تعالی به ډېر نعمتونه پرې ولوروي، د اسمان او زمکې د برکتونو دروازي به ورته پرانیزي، خو که هغوی د الله تعالی له اوامرو څخه سرغړونه وکړه، نه یواځې دا چې خپل نعمتونه به پري بند کړي بلکې عذاب به پرې هم نازل کړي، الله تعالی فرمایي: ﴿ وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُواْ وَاتَّقَواْ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاء وَالأَرْضِ وَلَكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذْنَاهُم بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ ﴾ [124]

ژباړه: او که چېرې ددې کلیو خلکو ایمان راوړی وای او تقوی یې کړې وای نو پردوی به مو داسمان او ځمکې د برکتونو (دروازې) پرانیستلې وې، خو دروغ یې وګڼل (رسولان) نو په هغه عمل کې مو راونیول چې دوی کولو.

امام رازي وایي: که چېرته د کلیو خلک په الله، ملائکو،کتابونو، رسولانو او اخرت په ورځ ایمان راوړي، او له هغه څه نه ځانونه وژغوري چې الله حرام ګرځولي دي، د زمکې او اسمان برکتونه به پرې نازل کړي، د اسمان برکتونه د باران له لاري، او د زمکې برکتونه د نباتاتو مېوو، د څارویو ډېرېدل او د امن او سلامتیا له لاري.[125]

---

[124] د الأعراف سورت (96).

[125] التفسير الكبير ١٤/ ١٦٣

## دویم مطلب: استغفار او توبه ویستل

له ډیرو اړینو او مهمو سببونو څخه چې د هغې په واسطه رزق او روزي لاسته راوړل کیږي استغفار او توبه ده، استغفار او توبه څه ته وایي؟ آیا کوم شرعي سند او دلیل شتون لري چې دا ثابت کړي چې استغفار او توبه د روزۍ ګټلو لاري دي؟

## د استغفار او توبې حقیقت :

ډیری خلک په دي آند دي چې استغفار او توبه یواځې په ژبه ویل مهم دي، لکه یو کس ووایي: "أستغفر الله وأتوب إليه" له الله –جل جلاله- څخه د ګناهونو بښنــه غواړم، او توبه وباسم، او په زړه کې یې د نوموړو کلمو څه اثر نه وي، همدا ډول د بدن په غړو یې هم کوم تاثیر نه لیدل کیږي، نو ویلای شو چې دا ډول کار د دروغجن سړي کار دی، اوپه ریښتني توګه استغفار او توبه نه ده.

پوهانو د استغفار او توبې حقیقت بیان کړی دی، د بیلګې په ډول راغب اصفهاني –رحمه الله-وایي: "په شریعت کې توبه د ګناهونو پرېښودو،په –ناروا- کړنو پښیمانې، د بیا نه کولو قوي هوډ یې، او د سمو کارونو د پرېښودو په بدل کې نور ښه کارونه کولو، او د امکان په صورت کې د پرېښودل شوو کارونو راګرځول، کله چې دا څلور شیان یو ځای شي د توبې شرطونه پوره بلل کیږي". (126)

او امام نووي-رحمه الله- ددې تعبیر په خپلو اسلوبو کې داسې کوي وایي چې: "علما وایي:له هري ګناه څخه توبه ویستل واجب او لازم دي، که چیرته ګناه د انسان (بنده) او الله په منځ کې وي، او د نورو انسانانو حقوق وربوري نه وي تړلي دري شرطونه لري:

1- ګناه به له بیخه پریږدي.
2- د ګناه په کولو به پښیمانې څرګنده وي.
3- د ګناه په دوباره نه کولو به قوی هوډ کوي. که چیرته له نوموړو دریو شرطونو څخه یو هم شتون نه درلود توبه یې سمه نه ده.

که د وګړي ګناه د بل انســان سره تړاو لرلو، نو بیا د څلورو شرطونو شتون اړین بلل کیږي، دري چې مخکې ذکر شــول، او څلورم شرط یې د حق له څښتن څخه تبریه

---

(126) المفردات فی غریب القرآن، د (توب)ماده،ص٧٦

اخستل، که د چا مال وي نو واپس کوي به يي، او که حد وي پري جاري کيږي به، او يابه ورته عفوه کيږي، او که غيبت وي نو ښښنه به غواړي".[127]

د استغفار په اړه امام راغب اصفهاني-رحمه الله- وايي: "د استغفارغوښتل په وينا او کړنه(عمل) دواړو پوري تړاو لري،-بايد دواړه په کار واچول شي- يواځې وينا بسنه نه کوي، او د قرآن کريم وينا ده چې: ﴿فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوارَبَّكُمْ إِنَّهُ كَا نَ غَفَّارًا﴾[128].ژباړه:او ورته ومې ويل چې خپل رب نه موبخښنه وغواړئ، هغه يقيناً ډېربخښونکدی.

په دې ايت کې استغفار يواځې په ژبه نه بلکې په ژبه او کړنه دی،داسې ويل شوي دي چې: يواځې په ژبه اسغفار ويل پرته له کړنې نه د لويو دروغجنانو کاردی".[129]

دويم د استغفار او توبې په اړه شرعې سند چې د روزۍ د لارو چارو څخه ګڼل کيږي:

په قرآن او سنت کې ډيرى نصوص شتون لري دا ثابتوي چې استغفار او توبه د روزۍ له مهمو اسبابو څخه شميرل کيږي په اړه يې ځينې نصوص په لاندې ډول دي:

د نوح –عليه السلام- په اړه قرآن کريم دا سې فرمايي: ﴿فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا (10) يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا (11) وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا ﴾(12)

ژباړه:او ورته ومې ويل چې خپل رب نه موبخښنه وغواړئ، هغه يقيناً ډېربخښونکدی (10)آسمان به ډېراورونکدرباندې راخوشې کړي (11)او په مالونو او زامنو به ستاسو مرسته وکړي، باغونه او ويالې به درته پيداکړي (12)

له پورتنو آياتونو څخه دا جوته کيږي چې استغفار ددې لپاره دی چې راتونکي شيان ورسره تعلق لري:

1. د الله –جل جلاله- له لورې د ګناهونو ښښل. ﴿إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا﴾
2. د پرلپسې باران نازليدل، د (مدرارا) معنا عبد الله بن عباس-رضي الله عنهما- وايي: پرلپسې باران.[130]

---

(127) رياض الصالحين ص ۴۱-۴۲

(128) د نوح سورت (10).

(129) المفردات في غريب القرآن، ماده (غفر) ص۳۶۲

(130) رواه البخاري، كتاب التفسيرو سوره نوح ۸/ ۶۶۶

3. د مال او اولاد زیاتوالی، ﴿وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ﴾ ددې ایت په اړه عطا-رحمه الله- وایي: "ستاسو مالونه او بچي به زيات کړي".[131]
4. د باغونو ډیریدل.
5. د نهرونو او ویالو زیاتوالی، امام قرطبي-رحمه الله- د پورته ذکر شوي ایت او هغه ایت چې د هود په سورت کې دی[132] داسې وايي چې: "نوموړي ایتونه په دې دلالت کوي چې د استغفار په وجه روزي او بارانونه نازلیږي".[133]

حافظ ابن کثیر-رحمه الله- وايي: "کله چې تاسو الله ته توبه وباسی او استغفار غواړی، او دهغه اطاعت کوی، نو روزي به مو زیاته کړي، او د اسمان له برکتونو څخه به برخمند شی، اود ځمکې برکات به درته شنه کړي،او ستاسو د حیواناتو شوده به درته زيات کړي، مالونه او بچي به مو پریمانه کړي، او هر ډول میوي او باغونه چې د هغې په منځ کې به اوبه رواني وي درکړي".[134]

همدا ډول عمربن الخطاب –رضي الله عنه- به چې کله هم د باران غوښتنه کوله، پورتني ایتونه به یي لوستل،مطرف له شعبي څخه روایت کوي چې عمر-رضي الله عنه- یوه ورځ خلکو ته د باران غوښتنه کوله، نو له استغفار څخه به یي څه نه زیاتول، ورته وویل شول چې:مونږ خو له تا څخه د استسقا په اړه څه وانه وریدل، ویې ویل: ما دهغه څه په وجه باران وغوښت چې د هغې په واسطه باران نازلیږي، بیا یي دا ایتونه ولوستل ﴿فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا (10) يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا﴾[135]

همدا ډول حسن بصري-رحمه الله- ته د وچکالی،فقر،د نسل کمبود او باغونو د وچوالې په اړه شکایتونه وشول، نوموړي ورته د استغفار لارښوونه وکړه، امام قرطبي د الربيع بن صبيح په روایت نقل کوي، او وايي چې: یو سړې حسن بصري ته د قحط او وچکالی په اړه شکایت وکړ، هغه ورته وویل: استغفار ووایه، یو بل سړې ورته د فقر په اړه شکایت وکړ، ورته ویې ویل: استغفار ووایه. یوبل سړې ترې د اولاد لپاره دعا وغوښتله، ورته ویې ویل: استغفار ووایه.

---

[131] تفسير البغوي ۳۹۸/۴، اوتفسير الخازن ۷/ ۱۵۴

[132] ﴿ وَيَاقَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَى قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِينَ ﴾ (52) سورت هود.

[133] تفسير القرطبي ۱۸/ ۳۲، اوالإكليل في استنباط التنزيل ص272, او فتح القدير 417/5

[134] تفسير ابن كثير ۴/ ۴۴۹

[135] روح المعاني ۲۹/ ۷۲

بل سړي ورته د باغونو د وچوالي په اړه شکايت وکړ، ورته ويې ويل: استغفار ووايه. ربيع بن صبيح ورته وويل: مختلف وګړي درته راغلل او هر يو بيلابيل شکايتونه لرل، ټولو ته دې د استغفار لارښوونه وکړه،[136] ويې ويل: ما له خپله ځانه هيڅ نه دي ويلي، بلکې الله -جل جلاله- د نوح په سورت کې فرمايي ﴿ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا (10) يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا (11) وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا ﴾ (12)[137] ژباړه يې لږ مخکې تيره شوه.

ومولیدل چې د استغفار ميوه څومره خوږه ده!!! ای الله! ته مونږ له استغفار ويونکو څخه وګرځوي، او په دنيا او اخرت کې د استغفار له ثمراتو څخه مونږ بې برخې نه کړې.

۲)هود -عليه السلام- خپل قوم استغفار ته دعوت کړی و، قرآن کريم د هغه په اړه داسې نقل کړيدي: ﴿ وَيَاقَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَى قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِينَ ﴾ (52) [138].ژباړه:او اې قومه! له خپل رب نه مو بخښنه وغواړئ بيا دهغه لور ته وروګرزئ، چې له آسمانه ډېر وريدونکی (باران) پر تاسې راولېږي او له (موجوده) ځواك سره به نور ځواك هم در زيات کړي او د مجرمانو شانته مخ مه ګرځوئ.

حافظ ابن کثير-رحمه الله- ددې ايت په تفسير کې داسې وايي: هود -عليه السلام- خپل قوم ته په استغفار امر وکړ، هغه چې د ګناهونو د پاکولو مهمه ذريعه ده،او د توبې په واسطه به برحاله ګناهونه درته معاف کړي، او څوک چې په دي صفتونو متصف شي الله به ورته د روزی لاري اساني کړي، او کارونه به يي پرمخ لاړشي، او حفاظت به يي وکړي.[139]

۳)الله -جل جلاله- د هود سورت په دريم ايت کې داسې فرمايي: ﴿ وَأَنِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُمَتِّعْكُمْ مَتَاعًا حَسَنًا إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى وَيُؤْتِ كُلَّ ذِي فَضْلٍ فَضْلَهُ وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيرٍ ﴾ (3)] ژباړه:او دا چې له خپل ربه مو بخښنه وغواړئ، بيا هغه ته توبه وکړئ چې تر يوې معلومې نېټې پورې تاسوته د ژوند وسايل درکړي او هر د فضل خاوندته به يې فضل ورکړي او که تاسو مخ وګرځولو نو بيا خو پر تاسو د يوې سترې ورځې له عذابه وېرېږم.

---

([136]) تفسير الخازن ۷/ ۱۵۴، او روح المعاني ۲۹/ ۷۳

([137]) تفسير القرطبي ۱۸/ ۳۰۲- ۳۰۳، او تفسير الکشاف ۴/ ۱۹۲، او المحرر الوجيز ۱٦/ ۱۲۳

[138] ) د هود سورت.

([139]) تفسير ابن کثير ۲/ ٤۹۲، او تفسير القرطبي ۹/ ٥۱

په پورتني ايت کې د الله له اړخه هغه کسانو ته د پراخ روزۍ وعده ده چې څوک استغفار غواړي او الله ته رجوع کوي او توبه وباسي.

د[مَتَاعًاحَسَنًا] په اړه عبد الله بن عباس-رضي الله عنهما-وايي: الله به روزي او پراخه ژوند درکړي".[140]

امام قرطبي-رحمه الله-وايي: "د استغفار او توبې ثمره داده چې پراخه روزۍ او خوشحاله ژوند به درکړي، او دعذاب په واسطه به مو نه هلاکوي لکه څرنګ چې مخکينې قومونه يې هلاک کړي دي".[141]

يو مشهور مفسر محمد أمين الشنقيطي وايي: "په نوموړي ايت کې شرط او جزا دواړه ذکر دي، پدې معنا چې د ګناهونو د بښلو لپاره استغفار او توبه ويستل شرط شو، جزای داده چې دغه بنده ته به [مَتَاعًاحَسَنًا] ورکوي".[142]

دريم مطلب: تقوا او پرهيزګارۍ کول

دريم هغه څه چې د هغې په واسطه انسان روزۍ لاسته راوړي هغه تقوا او پرهيزکارۍ ده، تقوا يعنې څه؟

پوهانو د تقوا معنا په راتلونکو تعبيرونو سره کړې ده:

إمام راغب أصفهاني-رحمه الله- د تقوا معنا داسې بيانوي: "له هغه څه شي څخه ځان ساتل چې انسان ګناه ته اړ کوي، اودا په دې معنا چې له محظوراتو(منعه شوي شيانو) څخه ځان ژغورل، او ځينو مباحو شيانو څخه ځان ساتلو باندې تقوا پوره کيږي".[143]

او إمام النووي تقوا بيا داسې تعبيروي چې: "د الله امر په ځای کول، او له منعه شوو شيانو څخه ځان ژغورل،په دې معنا چې د الله له قهر او عذاب څخه ځان ساتلو ته تقوا وايي".[144]

---

[140] زاد المسير ۴/ ۷۵

[141] تفسير القرطبي ۹/ ۴۰۳، او تفسير الطبري ۱۵/ ۲۲۹- ۲۳۰، الكشاف ۲/ ۲۵۸، تفسير البغوي ۴/ ۳۷۳، وفتح القدير ۲/ ۶۹۵، او تفسير القاسمي ۹/ ۶۳

[142] أضواء البيان ۳/ ۹

[143] المفردات في غريب القرآن ص۵۳۱

[144] تحرير ألفاظ التنبيه ص۳۲۲

د امام جرجاني په تعبير تقوا عبارت ده له: "د الله تعالی په تابعداری د هغه له عذابه ځان ساتل ،پدي معنا چې له هغه شیانو څخه ځان ژغورل چې د عذاب مستحق گرزي، خوا که هغه کول وي یا پریخودل وي".[145]

نو ویلای شو چې که څوک له هغه شیانو څخه ځان ونه ژغوري چې نفس گناه ته اړ کوي نو دا انســان متقې نه بلل کیږي، هغه څوک چې په خپلو ســترگو حرامو ته گوري، او یا هغه څوک چې په خپلو غوږونو هغه څه اورې چې د الله د قهر سبب گرزي، او یا په خپلو لاسونو هغه کړني تر سره کوي چې الله پرې نه خوشـحالیږي، او یا په خپو باندې هغه لورې ته درومې چې الله پرې غوسه کیږي، نو دې انسان خپل ځان له گناه څخه ونه ژغوره.

هغه څوک چې د الله امر نه پلی کوي بلکې هغه کړني ترسره کوي چې منعه یې فرمایلي ده نو دا انســان متقې نه بلل کیږي. او څوک چې د گناه په ســبب خپل ځان د الله د قهر لاندې راولې نو دغه ډول کړنه انسان د متقیانو له قطار څخه ځان وباسي.

دویم: بې شمیره دلیلونه شتون لري دا جوته وي چې تقوا د روزی د زیاتیدو لامل دی:

لومړی دلیل: الله –جل جلاله- فرمایي: ﴿وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا (2) وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾[146] ژباړه: او څوك چې الله نه ویره کوي، (الله به) هغه ته د خلاصون لار پیدا کوي (2)او له يو داسې لوري به روزي ورکوي چې دی یې گومان هم نه کوي.

په دې قول کې الله تعالی بیانوي چې څوک په ځان کې تقوا پیدا کړي دوه شیان به ورکړي: لومړی: ﴿ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا﴾هغه ته د خلاصون لار پیدا کوي. عبدالله بن عباس –رضي الله عنهما- وایي: د دنیوې او اخروي د مشکلاتو نه د وتلو لاره به ورته وښایې.[147]، او دویم: ﴿ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾او له يو داسې لوري به روزي ورکوي چې دی یې گومان هم نه کوي او نه یې په ذهن کې گرزیدل.[148]

او حافظ ابن کثیر بیا ددې ایت په تفسیر کې داسې وایي:څوك چې الله نه ویره کوي،په هغه څه کې چې امر یې ورته کړی دی،او هغه څه یې پرېښودل چې هغه منعه کړي دي (الله به) هغه

---

[145] کتاب التعریفات ص٦٨

[146] د الطلاق سورت (٢-٣).

[147] تفسیر القرطبي ١٨/ ١٥٩،

[148] زاد المسیر ٨/ ٢٩١- ٢٩٢

ته له هر اړخه د خلاصون لار پیدا کړي،او له یو داسې لوري به روزي ورکړي چې دی یې گومان هم نه کوي، معنا ده چې په ذهن کې به یې هم نه گرزي.[149]

دا وه د تقوا ثمره اونتیجه، څومره لویه او شانداره ثمره!!! عبد الله بن مسعود –رضي الله عنه- وایي: په قرآن کریم کې د خلاصې لوی آیت همدا ایت دی چې ﴿ وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا ﴾.[150]

دویم دلیل: الله –جل جلاله- فرمایي: ﴿ وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَكِنْ كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴾[151]. ژباړه: او که چېرې د دې کلیو خلکو ایمان راوړی وای او تقوی یې کړې وای نو پردوی به مو داسمان او ځمکې د برکتونو (دروازې) پرانیستلې وې، خو دروغ یې وگڼل (رسولان) نو په هغه عمل کې مو راونیول چې دوی کولو.

په دې ایت کې الله –جل جلاله- دا بیانوي چې ددې کلیو والاو دوه کارونه پلې کړای وای چې یو یې ایمان او بل یې تقوا نو الله به پرې هر خیر پراخه کړا وای، او ټول کارونه به یې ورته اسانه کړای وای.

عبد الله بن عباس ددې ایت په تفسیر کې داسې وایي: په دوي به مو ټول خیرونه پراخه کړي وای، او ټول کارونه به مو ورته اسانه کړای وای.[152]

## څلورم مطلب : په الله –جل جلاله- توکل لرل

بله هغه و سیله چې د هغې په سبب بې نیاز او بې پروا ذات انسان ته روزې ورکوي په الله –جل جلاله- باندې توکل دی، په الله توکل، یعنې څه؟ اوپه کوم ډول؟ او آیا کوم شرعې سند شتون لرې چې د توکل په وجه انسان ته روزې ورکول کیږي؟ او آیا د توکل معنا داده چې لاسونه راونغاړو او حرکت او خوځښت پریږدو؟ دا هغه دري پوښتني دي چې دیته په ځواب کې د توکل سمې معنا ته رسیدی شو.

لومړی پوښتنه: توکل څه ته وایي؟

امام غزالي –رحمه الله- وایي: توکل په وکیل باندې د زړه اعتماد او بروسې ته وایي.[153]

---

[149] تفسیر ابن کثیر ۴/ ۴۰۰

[150] مخکینی سرچینه،

[151] د الأعراف سورت (96).

[152] تفسیر أبي السعود ۳/ ۲۵۳

[153] إحیاء علوم الدین 4/ 259

او علامه مناوي-رحمه الله- وايي: توکل د خپلې بیوسی او عاجزۍ او اعتماد اظهار هغه چاته چې په هغه توکل کیږي.[154]

ملا علي قاري- رحمه الله- وايي: په الله -جل جلاله- د سم توکل معنا داده چې: په دې پوهه شي چې په دنیا کې بل فاعل حقیقي نشته مګر یو الله دی، او ټول موجودات که هغه پیدایښت، روزي، ورکړه نه ورکړه، فایده او تاوان، شتمني او ناچاري، مرضې او صحت او ژوند او مرګ او داسې نور چې په هغې د موجود اطلاق کیدای شي دا ټول د الله له اړخه دي.[155]

دویمه پوښتنه: آیا کوم شرعي دلیل شتون لري چې د توکل په وجه انسان ته روزي ورکول کیږي؟

د عمر بن الخطاب-رضي الله عنه- څخه روایت دی وايي چې: رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي دي: "لَوْ أَنَّكُمْ تَوَكَّلْتُمْ عَلَى اللَّهِ حَقَّ تَوَكُّلِهِ، لَرَزَقَكُمْ كَمَا يَرْزُقُ الطَّيْرَ، تَغْدُو خِمَاصًا، وَتَرُوحُ بِطَانًا"[156]

ژباړه: که چیرته تاسو په الله-جل جلاله- سم او حق توکل وکړی، هرو مرو به روزي درکړي لکه څرنګ چې یې مرغانو ته ورکوي.سهار مالې خالي ګیډې -له خپلو ځالو-اوځي، او د ورځې په اخر کې په ډکو ګیډو راستانه کیږي.

په نوموړې حدیث کې په الله بروسه کوونکي ته د روزۍ ورکولو بیلګه د مرغانو سره ورکړ شوي ده، بغیر له خوځښت او حرکت څخه هغوي نوري و سیلې نه لري، نو هغه څوک چې په الله توکل کوي وعده دا شویده چې روزي به ورکوي، او ولې به یې نه ورکوي ځکه ده په هغه ذات بروسه کړیده چې هغه ژوندی ذات دی چې مرګ پرې نه راځي،یواځې همغه دده کافي دی، الله -جل جلاله- فرمایي:[ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ] سورت الطلاق(۳)ایت.
ژباړه:او څوك چې په الله توکل وکړي نو هماغه یې کافي دی.

الربیع بن خیثم-رحمه الله- ددې ایت په تفسیر کې وايي: د هرهغې بیوزلۍ څخه به یې کافي شي چې دا ورسره لاس او ګریوان وي.[157]

---

[154] فیض القدیر ۵/ ۳۱۱

[155] مرقاة المفاتیح 9/ 156

[156] مسند أحمد، د حدیث شمیره(۲۰۵)۱/ ۲۴۳، احمد محمد شاکر ددې حدیث سند صحیح ثابت کړی دی، د مسند هامش۱/ ۲۴۳. ترمذي د حدیث شمیره(۲۴۴۷)، الباني هم ورته صحیح ویلي دې، سلسلة الأحایث الصحیحة (310) 3/ 12.

[157] شرح السنة 14/ ۲۹۸

دریمه پوښتنه: آیا د توکل معنا داده چې لاسونه به رانغاړو، او حرکت او خوځښت به نه کوو؟

ځیني وګړي دا فکر کوي چې په الله -جل جلاله- توکل کوونکې ته هسې هم روزي ورکول کیږي، او ژوند یي روان دی، اړینه نه ده چې مونږ کوښښ او هڅه وکړو، بلکې آرامه کېنو،خوځښت او حرکت ته اړتیا نشته، روزي خو هسې هم رارسیږي. روښانه ده چې دا ویونکی د توکل په معنا او حقیقت نه دی پوهه شوی، که مونږ او تاسو د پورتني حدیث محتوا ته زیر شو نو ستونزه او ناپوهې له منځه درومي،په نوموړې حدیث کې رسول الله-صلی الله علیه وسلم- د توکل کوونکې ورته والی له مرغانو سره ورکړی دی، کوم چې د ورځې په لومړۍ برخه کې حرکت کوي او له خپلو ځالو خوځښت کوي،او په اخرې برخه د ورځې کې واپس کیږي،دا جلا خبره ده چې مرغان تجارتخانې، کارخاني،وظیفي اود زراعت ځانګړې ملکیتونه نه لري، په هر حال دا مرغان له خپلو ځالو پداسې شکل الوزي چې په الله توکل کوونکي وي، او خپل حرکت او خوځښت ته دوام ورکوي، نو له انسان څخه د توکل کولو وروسته خوځښت او حرکت مطلوب دی.

امام احمد بن حنبل -رحمه الله- وایي: په نوموړې حدیث کې د دا سې څه ذکر ندی شوی چې انسان دې حرکت نه کوي،او کارونه دې ودروي، بلکې دا ذکر دي چې د رزق تالاش او هڅه وکړئ، خو مهمه داده چې که انسان د تلو او راتلو په وخت کې په الله بروسه وکړي، او په دې پوهه شي چې ټول خیر د الله په لاس کې دی نو تش لاس به واپس نشي، لکه د مرغانو په څیر چې هغوي هم تشه ګیډه نه واپس کیږي.(158)

د امام احمدبن حنبل څخه د هغې وګړې په اړوند پوښتنه وشوه چې په کور یا جمات کې کینې،او وایي چې: زه کار نه کوم، ګورم چې ماته روزي راکول کیږي که نه؟ نومړې وویل: دا وګړی سم نه دی پوهه شوی، نبي -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي دي: الله-جل جلاله-زما روزي زما د نیزي په سیورې کې ګرځولې ده، او فرمایلي دي چې: که چیرته تاسو په الله سم توکل او وکړئ نو روزي به دا سې درکړي لکه مرغانو ته یي چې ورکوي،د سهار په وخت کې خالي ګیډې او ځي او ماښام بیا په ډکه ګیډه راګرځي. احمدبن حنبل وایي: صحابو تجارتونه کول، او د خرماو په باغونو کې به یي کارونه کول، هغوي زمونږ لپاره پیشوایان دي.(159)

---

(158) د تحفة الأحوذي په استناد ۷/ ۸

(159) د فتح الباري په حواله ۱۱/ ۳۰۵-۳۰۶

شيخ ابو حامد وايي: ځيني وګړي داسې انګيري چې د توکل معنا بدن ته حرکت نه ورکول، په زړه د کار کولو تدبير نه نيولو، او د يوې زړې چړې په څير په ځمکه ځان ګزارول دي، او دا د ناپوهه خلکو فکر دی، دا په شريعت کې حرام دي، او حال دا چې شريعت توکل کوونکی ستايلی دی، نو دا څنګه کيدای شي چې يو ديني مقام (توکل) دې په حرامې لارې لاسته راوړل شي!!! بلکې د شريعت تګلاره داده چې د توکل تاثير او اغيزه د انسان په حرکت او خوځښت، کوشش او کړنه پورې تړلی دی. (160)

امام ابو القاسم القشيري-رحمه الله-وايي چې: د توکل کولو ځای او محل زړه دی، کله چې بنده دې حقيقت ته ورسيد چې حقيقي روزي ورکوونکی الله -جل جلاله- دی، نو حرکت او خو ځښت له دې سره په تناقض کې نه ليدل کيږي. (161)

يو بل دليل چې د توکل معنا دا نه ده چې انسان دې کسب او کار پريږدي، او په کور کې دې ډډه ولګوي، بلکې کسب او کار يو شرعي کړنه ده، بايد سرته ورسيږي،

عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أُرْسِلُ نَاقَتِي وَأَتَوَكَّلُ؟، قَالَ: «اعْقِلْهَا وَتَوَكَّلْ». (162)

عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ، قَالَ: قَالَ عَمْرُو بْنُ أُمَيَّةَ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أُقَيِّدُ رَاحِلَتِي وَأَتَوَكَّلُ عَلَى اللَّهِ أَوْ أُرْسِلُهَا وَأَتَوَكَّلُ؟، قَالَ: «قَيِّدْهَا وَتَوَكَّلْ» (163)

ژباړه: جعفر بن عمرو بن أميه-رضي الله عنه- له خپل پلار څخه روايت کوي چې يو وګړي نبی-صلی الله عليه و سلم-ته وويل: زه خپله سورلی پريږدم اوتوکل کوم، نبی -صلی الله عليه وسلم- ورته وفرمايل: ويې تړه بيا توکل وکړه.

او د امام قضاعی په روايت کې خپله راوي وايي چې: ما وويل:ای د الله رسوله! آيا زه خپله سورلی وتړم او بيا په الله توکل وکړم، او که خلاصه يې پريږدم او توکل وکړم؟ ويې فرمايل: ويې تړه بيا توکل وکړه.

نتيجه دا شوه چې دکسب او کار پريخودل د توکل غوښتنه نه ده، بلکې په هر مسلمان لازم دي چې کوشش او تلاش وکړي او د کار کولو هڅه دي وکړي، مګر اعتماد او بروسه به يې په

---

(160) د مرقاة المفاتيح په حواله ۵/ ۱۵۷

(161) د وړاندې سرچينې په حواله ۵/ ۱۵۷

(162) الإحسان في تقريب صحيح ابن حبان، دحديث شميره (۷۳۱) 2/ 510، او المستدرک على الصحيحين ۳/ ۶۲۳، امام الذهبي وايي: ددې سند جيد دی، التلخيص ۳/ ۶۲۳

(163) مسند الشهاب، د حديث شميره(۶۳۳) 1/ ۳۶۸

خپل کوښښ نه وي بلکې دا عقیده به ساتې چې کارساز الله دی، او ټول کارونه د هغه په لاس کې دي، او ژوند او روزې همغه ورکوي، له همدې لارې انسان باید خپل ژوند منظم کړي، او د توکل سره دې خوځښت او حرکت وکړي،او کوشش او هڅه دې هم نه سپموي ترڅو خپل ژوند کې بریالی او سوکاله اووسي.

## پنځم مطلب: د الله-جل جلاله- عبادت ته ځانګړنه

یوه بله هغه وسیله چې انسان ته پرې روزې ورکول کیږي د الله تعالی عبادت ته ځانګړنه ده، په دې معنا چې زړه او بدن د الله عبادت ته فارغ کړي، او په هغه شکل یې ترسره کړي څنګه چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- مونږ ته د هغې ښوونه کړیده.

عبادت ته ځانګړنه، په کوم ډول؟ او آیا کوم شرعې دلیل شتون لري چې دا ثابت کړي چې د الله عبادت ته ځانګړنه د روزۍ لاسته راوړلو له وسایلو څخه شمیرل کیږي؟

لومړی: د الله عبادت ته ځانګړنه په کوم ډول؟

د الله عبادت ته ځانګړنې هدف دا نه دی چې انسان دې له دنیوې کسب او کار څخه ځان ګوښه کړي، او د جومات ګوډ دې خپل کړي او دنیوې راکړې ورکړې ته دې د پای ټکی کیږدي،بلکې ددې هدف دادی چې انسان د عبادت په وخت کې باید خپل زړه او د بدن ټول غړي الله ته متوجه کړي،او هغه ته د عاجزۍ سر ټیټ کړي، او دالله لویې په زړه کې راولي، او دا سې عبادت ترسره کړي چې زه اوس د الله سره په مناجات کې یم،دا سې عبادت وکړي لکه په حدیث شریف کې چې راغلي رسول الله-صلی الله علیه وسلم- فرمایي: "أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنَّكَ إِنْ لاَ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ"[164]

ژباړه: د الله دا سې عبادت او پرستش وکړه ګویا که ته هغه-الله- وینې، که ته هغه نه وینې نو هغه خو هرومرو تا وینې.

د عبادت په وخت کې د انسان زړه او د بدن ټول غړي باید د الله په عبادت کې مصروف وي،ملا علي قاري-رحمه الله- وایي: الله ته د عبادت په وخت کې د زړه په اخلاص کې نهائی کوشش او مبالغه وکړئ.[165]

---

[164] متفق علیه، د ابوهریره په روایت، دحدیث لفظ له صحیح مسلم څخه، دحدیث شمیره (٩) ١/ ٣٩

[165] مرقاة المفاتیح 9/ 26

نوکله چې انسان د الله په عبادت کې بوخت وي له دنیوي تجارتونو،زراعتونو،کارونو او راکړې ورکړې څخه دې زړه فارغ کړي، او د بدن ټول غړي او په ځانګړې ډول زړه دې الله ته متوجه کړي،ترڅو هغه عبادت ادا کړي کوم چې له انسان څخه غوښتل شوی دی.

دویم: آیا کوم دلیل شتون لري چې په دې دلالت وکړي چې د الله عبادت ته ځانګړنه د روزۍ د ګټلو له اسبابو څخه شمیرل کیږي؟

بې شمیره دلیلونه شتون لري چې د الله عبادت ته ځانګړنه د روزۍ له اسبابو شمیري:

۱-ابوهریره -رضي الله عنه- له نبي -صلی الله علیه وسلم- څخه قدسي حدیث روایت کوي چې "إِنَّ اللهَ تَعَالَى يَقُولُ: يَا ابْنَ آدَمَ , تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي أَمْلَأْ صَدْرَكَ غِنًى وَأَسُدَّ فَقْرَكَ، وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ، مَلَأْتُ صَدْرَكَ شُغْلاً وَلَمْ أَسُدَّ فَقْرَكَ "[166] ژباړه: الله -جل جلاله- فرمايي: ای د آدم ځویه-انسانه-! زما عبادت ته ځان ځانګړی کړه، ستا زړه به له شتمنۍ څخه ډک کړم، او بېوزلي به دې له منځه ویوړم،او که دا کار ونه کړې لاسونه به دې همشیه بوخت کړم،او بېوزلي به دې له منځه نه وړم.

په نوموړې قدسي حدیث کې الله -جل جلاله- هغه چا سره د دوو ډالیو ژمنه کوي چې د هغه عبادت ته یې ځان فارغ کړی وي: لومړی ډالۍ د هغه زړه به شتمن کړي، دویمه ډالۍ بېوزلي به یې له منځه یوسي. او هغه چاچې د هغه عبادت ته ځان فارغ نه کړ دوه عذابونه به ورکړي: لومړی عذاب وزګار به یې نه کړي،همیشه به یې په دنیوي کارونو کې بوخت کړي، دویم عذاب بیوزلي به یې ختمه نه کړي، همیشه به یې خلکو ته اړ وساتي. الله -جل جلاله- دې مونږ له هغې ډلې څخه وشمیري چې دوه ډالۍ ورکول کیږي، نه له هغو کسانو څخه چې د دوو عذابونو وړ ګرځي.

ب-بل روایت له معقل بن یسار څخه دی چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي دي: "يَقُولُ رَبُّكُمْ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: يَا ابْنَ آدَمَ تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي أَمْلأْ قَلْبَكَ غِنًى وَأَمْلأْ يَدَيْكَ رِزْقًا، يَا ابْنَ آدَمَ لَا تَبَاعَدْ مِنِّي فَأَمْلأْ قَلْبَكَ فَقْراً وَأَمْلأْ يَدَيْكَ شُغْلاً "[167]

---

([166]) التر مذي، د حدیث شمیره(۲۵۸۴) ۷/ ۱۴۰، مسند أحمد، دحدیث شمیره(۸۶۸۱)، المتدرک ۲/ ۴۴۳، حاکم وایي: ددې حدیث سند صحیح دی، او امام الذهبي هم وروسره موافق دی. اوشیخ الباني هم ویلي دي چې: صحیح، صحیح سنن ترمذي وګوره ۲/ ۳۰۰

[167]- المستدرک علی الصحیحین ۴/ ۳۲۶، او امام حاکم وایي: ددې حدیث سند صحیح دی،او امام الذهبي هم په صحت کې موافق دی.التلخیص۴/ ۳۲۶،

ژباړه: ستاسو پالونکی لوي څښتن فرمايي: ای د آدم ځويه-انسانه-! زما عبادت ته ځان ځانګړی کړه، زړه به دې غني او شتمن کړم، او دواړه لاسونه به دې له روزۍ څخه ډک کړم، ای د آدم ځويه! له ماڅخه مه لرې کيږه، که نه نو زړه به دې له فقر او بېوزلۍ څخه ډک کړم، او لاسونه به دې ناوزګاره کړم.

په دې حديث کې هم د تير حديث په څير دوه نعمتونه او دوه عذابونه ذکر شول. او دا هم جوته ده چې د چا زړه چې الله شتمن کړي نو هيځکله به د بېوزلۍ احساس ونه کړي، او د چا لاسونه چې رزاق څښتن له روزۍ څخه ډک کړي نو هيځکله به مفلس او له خير څخه خالي نه شي، او که د چا زړه له بېوزلۍ او بېچارګۍ څخه ډک کړي نو هيڅ څوک به د هغه د شتمن کېدو توان هم ونه لري، او چا لره چې قهار څښتن بوخت کړي نو هيڅ څوک به هغه ته د راحت او استراحت وخت ورنه کړای شي.

## شپږم مطلب: په پرلپسې ډول حج او عمره کول

د روزۍ لاسته راوړلو او فقر او بېوزلۍ له منځه وړلو بل سبب او وسيله د حج او عمرې پرلپسې ادا کول دي، په دې موضوع به له دوو اړخونو څخه رڼا واچول شي، لومړی د حج او عمرې پرلپسې ادا کولو مراد څه شی دی؟ او دويم دهغې دليلونو وضاحت چې په موضوع دلالت کوي.

لومړی: د حج او عمرې پرلپسې ادا کولو مراد څه شی دی؟

شيخ ابو الحسن السندي -رحمه الله- ددې مقصد داسې بيانوي چې: دا کار-حج او عمره- تاسو يو بل پسې ورګرځوئ، مطلب دا چې کله مو حج ادا کړ ورپسې عمره ادا کړئ، او کله مو چې عمره ادا کړه ورپسې حج ادا کړئ.[168]

دويم: هغه دليل چې په دې دلالت کوي چې د حج او عمرې پرلپسې والی د بېوزلۍ له منځه وړونکی دی:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رضي الله عنه - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صلى الله عليه وسلم -: " تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ , فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَالذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ وَالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ ,وَلَيْسَ لِلْحَجِّ الْمَبْرُورِ ثَوَابٌ إِلَّا الْجَنَّةُ "[169] ژباړه: حج او عمره پرلپسې ادا کړئ؛ ځکه بېوزلۍ او

---

[168]- حاشية الإمام السندي على النسائي 5/ 115, او فيض القدير للمناوي 3/ 225

[169] المسند، د حديث شميره (٣٦٦٩)، ٥/ ٢٤٤، أحمد شاكر وايي: ددې حديث سندصحيح دی، د مسند هامش وګوره ٥/ ٢٤٤. او جامع الترمذي، د حديث شميره(٨٠٧)، ٣/ ٤٥٤، او مام الترمذي وايي: دا حديث حسن او صحيح دی،

گناهونه له منځه وړي، لکه څنګه چې د -آهنګر يا ټتار- بټۍ د وسپنې، سرو او سپينو زرو زنګ له منځه وړي، او د مبرور حج[170] عوض او بدله جنت دی.

امام الطيبي -رحمه الله- ددې حديث په شرحه کې وايي: بيوزلۍ داسې له منځه وړي لکه مال چې د صدقې په وجه زياتيږي.[171]

امام ابن حبان-رحمه الله- ددې حديث عنوان په خپل کتاب صحيح ابن حبان کې داسې کښلی دی (ذکر نفي الحج والعمرة الذنوب والفقر عن المسلم بهما)[172] ددې ذکر چې حج اوعمره د مسلمان ګناهونه او بيوزلۍ له منځه وړي.

نو معلومه شوه چې د حج او عمرې پرلپسې ادا کولو ثمره او ميوه د بيوزلۍ او ګناهونو له منځه وړل دي، هغه څوک چې غواړي بيوزلۍ او ګناهونه يې له منځه ولاړ شي، حجونه اوعمرې دې پرلپسې کوي، دا دکوم عادې فقيه او محدث خبره نه ده، بلکې د الصادق المصدوق محمد رسول الله-صلى الله عليه وسلم- خبره ده، او د هغه خبرې وحې ده.

## اوم مطلب: صله رحمي يعنې د خپلولۍ پالل

د روزۍ د جلبولو بله مهمه وسيله د خپلولۍ پالل يعنې صله رحمې ده، دا چې صله رحمې څه ته وايي؟ او آيا کوم دليل شتون لري چې صلې رحمې د روزۍ د زياتيدو سبب او وسيله ده؟ صله رحمې په څه کيږي؟ له ګناه کوونکو سره د صله رحمۍ څرنګوالی.

لومړی: صله رحمې څه ته وايي؟

ملا علي قاري -رحمه الله- وايي: له صله رحمۍ څخه مراد دادی چې د هغه چا سره احسان اونيکې وکړي چې خپلوان يې وي، که هغه په نسب کې شريک وي او يا د ښځې له خوا څخه

---

مګر د ابن مسعود-رضی الله عنه-له اړخه غريب دی. او عين د ترمذي حکم الباني هم ذکر کړيدی، وګوره صحيح سنن الترمذي ۱/ ۲۴۵

[170] مبرور حج: دري قوله دي: لومړی: هغه حج ته وايي چې کومه ګناه ترې ونشي، دويم: د حج کوونکې حالت له مخکينې څخه بدل وي، يعنې کړنه يې سمه شوې وي.شرحه دکتابالحجله (صحيحمسلم)څخه، شرحه کوونکی: عبدالکريم بن عبدالله بن عبدالرحمن بن حمد الخضير.۲۵/ ۱۷، او محمد بن اسماعيل الصنعاني بيا دري قوله ذکر کړيدي: دوه مخکيني، او دريم قول چې امام النووي ته يې منسوب کړی دی: مراد قبول شوی حج.سبل السلام ۱/ ۵۹۹

[171] فيض القدير ۳/ ۲۲۵

[172] الإحسان في تقريب صحيح ابن حبان 9/ 6

خپلوان وي، په دې ټولو زړه سوزول، مهرباني پرې کول، او د هغوي د ستونځو په نظر کې نيول دي.[173]

او حافظ ابن حجر -رحمه الله- وايي: هغه خپلوان چې نسـب کې سره شريک وي ،ميراث وړي يايي نه وړي محرم وي يا نه وي، دا ټول خپلوان مراد دي.[174]

دويم: آيا کوم دليل شـتون لري چې په دې دلالت وکړي چې صـله رحمې د روزۍ د زياتيدو وسيله ده؟

بې شميره حديثونه او آثار شتون لري چې په دې دلالت کوي چې صله رحمې د روزۍ د زياتيدو مهمه وسيله ده، دهغې له جملې څخه راتلونکې دليلونه دي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ، وَأَنْ يُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ، فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ»[175]

ژباړه: له أبي هريره-رضي الله-نه روايت دی وايي چې ما له رسول الله-صلی الله عليه وسلم- څخه اوريدلې دي چې فرمايلي: که څوک غواړي د روزۍ د زياتيدو، او د مرگ دوروسـته کيدو-د عمر د زياتيدو- خوشحالي لاسته راوړي نو صله رحمې-خپلولې- دې وپالي.

عَنْ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ، وَيُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ»[176]

ژباړه: له انس ابن مالک-رضي الله عنه- څخه روايت دی چې رسـول الله -صـلی الله عليه وسـلم- وفرمايل: که څوک دا خوښ گڼې چې روزې يې براخه شي،او عمر يې زيات شي، نو خپلولې دې وپالې.

په دواړو حديثونو کې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- د خپلولۍ ساتونکې ته دوه زيري ورکړيدي: لومړی زيری د رزوۍ د زياتيدو، او دويم زيری د عمر د ډيريدو دی، او دواړه هغه زيري دي چې د هر انسـان طبيعت يې په ډير لوړ قيمت غواړي، که څوک ددې ليوالتيا لري چې دا دواړه بې دريغه خوږې ميوې لاسته رواړي، نو هڅه دې وکړي او د صله رحمۍ نيالگي دې وکري، تر څو دا ميوې لاسته راوړي.

---

[173] مرقاة المفاتيح 8/ 645

[174] فتح الباري ۱۰/ ۴۱۴

[175] صحيح البخاري، دحديث شميره (۵۹۸۵)، ۱۰/ ۴۱۵

[176] رواه البخاري، د حديث شميره(۵۹۸۶)،۱۰/ ۴۱۵

عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ , صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُمَدَّ لَهُ فِي عُمْرِهِ , وَيُوَسَّعَ فِي رِزْقِهِ , وَيُدْفَعَ عَنْهُ مِيتَةُ السُّوءِ , فَلْيَتَّقِ اللَّهَ وَلْيَصِلْ رَحِمَهُ.(177)

ژباړه: که څوک په دې خوښ وي چې عمر يې زيات شي او روزي يې پراخه شي، او له بد مرگه وساتل شي، نو دادې پرهيزگارې وکړي او خپلولې دې وساتې.

په نوموړي حديث کې دا ثابت شول هغه څوک چې په ځان کې دوه صفتونه چې تقوا او صله رحمي پيدا کړي، نو دري گټې‌ي به لاسته راوړي: ۱- عمر به يې زيات شي. ۲- روزې به يې پراخه شي. ۳- له بده مرگه څخه به وژغورل شي.

د صله رحمی اغيز دومره زيات دی چې د بد کاره خلکو مالونه هم پرې زياتيږي، او بيوزلې يې ختميږي، دليل يې راتلونکی حديث دی:

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ - رضي الله عنه - قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله - صلى الله عليه و سلم -: " إِنَّ أَعْجَلَ الطَّاعَةِ ثَوَابًا , صِـلَةُ الرَّحِمِ , حَتَّى إِنَّ أَهْلَ الْبَيْتِ لَيَكُونُونَ فَجَرَةً، فَتَنْمُو أَمْوَالُهُمْ ,وَيَكْثُرُ عَدَدُهُمْ إِذَا تَوَاصَلُوا,وَمَا مِنْ أَهْلِ بَيْتٍ يَتَوَاصَلُونَ فَيَحْتَاجُونَ " (178)

ژباړه: أبي بكرة –رضي الله عنه- د نبي كريم –صلى الله عليه و سلم- څخه روايت كوي چې ويې فرمايل: په طاعتونو كې د صلې رحمی ثواب زر وركول کيږي،اگر که د كور وگړي فاجر او بدكاره هم وي دصـله رحمی په وجه مالونه او د وگړو شـمير به يې ډير شي،او هيڅ كور نه بيوزله کيږي ترڅو چې هغوي صله رحمي پالي.

يو څو پوښتني او د هغې ځوابونه:

لومړی پوښتنه: دا جوته خبره ده چې د انسان ژوند معلوم وي،چې په يو معلوم وخت به دده نيته ختميږي، له نوموړې نيتې څخه نه وروسته کيږي او نه مخکې کيږي، او دا هر څه په لوح محفوظ كې شتون لري كوم چې تغيير او تبديل نه قبلوي،پوښتنه دا پيدا کيږي چې د صلې رحمی پالونكې ژوند څنگه زياتيږي؟ آيا په لوح محفوظ كې كوم بدلون راځي؟ او آيا نيته يې مخكې او وروسته كيداى شي؟ حال دا چې الله –جل جلاله-فرمايي: [وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ] 179 ، ژباړه:او د هر امت لپاره يوه نيټه (ټاكل

---

(177) المسند، د حديث شميره (۱۲۱۲)، ۲/ ۲۹۰، أحمد شاكر وايي: ددې حديث سند صحيح دی، هامش المسند ۲/ ۲۹۰

(178) صحيح ابن حبان، د حديث شميره(۴۴۰) ۲/ ۱۸۲، د الباني حكم: حسن لغيره. السلسلة الصحيحة (918- او- 978).

(179) د الأعراف سورت (34)

شوې) ده، نو کله چې هغه نېټه يې راورسېده بيا به نه يوساعت وروسته کيږي او نه به وړاندې کيږي.

او کوم حديث چې د صله رحمي په اړوند ذکر شو له هغې داسې معلوميږي چې د انسان ژوند ورسره زياتيږي،او مرګ يې وروســـته کيږي،نو آيا د ايت او حديث په مفهوم کې ټکر نه ليدل کيږي؟

جواب: حديث پوهانو ددې څو ځوابونه کړي دي،چې اړين يې دلته ذکر کوو م:

لومړی: په حديث شريف کې چې کوم د عمر زياتوالی ليدل کيږي د هغې مراد په عمر کې برکت دی،په حقيقت کې عمر نه زياتيږي او نه کميږي، پدې معنا چې عمر به يې له عبادتونو، ښوکارونو او د وخت په نه ضايع کولو ډک شي، او عمر به يې آرامه سوکاله او پراخ وي.

دويم: د عمر دا زياتوالی حقيقي دی، پدې معنا چې ددې انســـان عمر په حقيقي ډول زياتيږي،مګر دا زياتوالی په لوح محفوظ کې نه بلکې د ملک الموت-د روحونو اخســـتلو ملائکې- سره دی،هغه چې په ايت کې ذکر دی هغه د الله د علم په اړوند دی چې تغيير او تبديل پکې نه راځي، د مثال په ډول الله-جل جلاله- ملائکې ته فرمايي که فلانې انســان صـله رحمي و ساتله عمر به يې سل کاله وي، او که يې ونه ساتله نو عمر به يې شپيته کاله وي،او د الله په علم کې دا وي چې فلانی به صـــله رحمې پالې او فلانی به يې نه پالي،هغه چې د الله په علم کې دي نه مخکې کيږي، او نه وروسته کيږي، او هغه چې د ملائکې په اړوند دي په هغې کې زياتوالی او کموالی راتلای شي، الله -جل جلاله- فرمايي: [يَمْحُو اللَّهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ وَعِنْدَهُ أُمُّ الْكِتَابِ ](180). ژباړه:الله چې څه غواړي هغه له منځه وړي او څه ثابت پاتې کوي او هماغه سره د کتاب اصل دی.

معلومه شـــوه چې دا تغيير او تبديل د ملائکې په هکله دی،هر چې په لوح محفوظ او د الله په علم کې دی په هغې کې تغيير او تبديل نه راځي،او ديته په عقيدوي مســـايلو کې مبرمه قضـــا وايي، او لومړي ډول ته يې معلقه قضا ويل کيږي.(181)

دويمه پوښتنه: صله رحمي په څه کيږي؟

ځينې وګړي صـله رحمي په مالي چارو پورې ځانګړې کوي،او وايي چې صـله رحمي يواځې په مال او پيسو کيږي نه په بل شي، خو دا انحصار سم نه دی؛ ځکه د صله رحمي ميدان ډير

---

(180) د الرعد سورت (39)

(181) فتح الباري ۱۰/ ۴۱٦، او شرح النووي ١٦/ ۱۱۴، او همدا دول عمدة القاري22/ 91

پراخه دی، پدې معنا چې د ژوند په هر ډګر کې د صله رحمی یا د خپلولۍ ساتل اړین دي، او باید سرته ورسول شي، خپلوانو ښېګڼه کول، او هغوي ته د کړغیړنو حالاتو څخه د ویستو په وخت کې لاس ورکول، که هغه د مال له لارې وي، او یا بله کومه لار وي مطلوب دي. امام أبي جمرة -رحمه الله- وايي: صـله رحمې په مال، د اړتیا په وخت کې کومک، د ضرر لرې کول، ورین تندې او دعا ګانو ټولو باندې کیږي، په مجموع کې د امکان په صـورت کې هر خیر رسول او د شر لرې کول د انسان دتوان په وخت کې مطلوب دي.(182)

دریمه پوښتنه: له ګناه کارو سره د صله رحمی څرنګوالی؟

څیني وګړي له ګناه کارو سره د صله رحمی په څرنګوالې کې تیروځې، هغوي داسې ګمان کوي چې له ګناه ګارو سره صـله رحمې د هغوي سره محبت کولو، کیناسـتلو، خوړلو او هغوي سره له سستی کولو په معنا دي، او دا سمه خبره نه ده. بلکې دا روښانه ده چې د خپلوانو سره نیکي کول د اسلام غوښتنه ده اګر که ګناه کار وي، بلکې حتی له کافرانو سره هم نیکي د اسلام له غوښتنو څخه دي، الله -جل جلاله- فرمايي: [لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ] (183)ژباړه: چا چې په دین کې تاسو سره جګړه نه ده کړې او له خپلو کورو یې بهر نه یئ وېستلی نو الله مو هغوی سره له ښېګڼې او انصافه نه ایساروي، یقیناً انصاف داره خلك د الله خوښیږي.

همدا ډول د أسماء بنت أبی بکر-رضي الله عنهما- پوښتنه چې له رسول الله -صلی الله علیه و سلم- څخه یي کړې وه، په حدیث شریف کې راځې: عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، قَالَتْ: قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وَهِيَ مُشْرِكَةٌ فِي عَهْدِ قُرَيْشٍ إِذْ عَاهَدَهُمْ فَاسْتَفْتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وَهِيَ رَاغِبَةٌ، أَفَأَصِلُ أُمِّي؟ قَالَ: «نَعَمْ، صِلِي أُمَّكِ»(184)

ژباړه: له اسـماء بنت ابی بکر-رضي الله عنهما- څخه روایت دی وايي: څما مور چې مشرکه وه راغله-مدینې ته-اسلام غوښتونکې وه(185)، ما له رسول الله -صلی الله علیه وسلم- څخه فتوا وغوښـته چې آیا د خپلې مور سره صـلې رحمې وکړم؟ ویفرمایل: هو، له مور سره دې صـلې رحمې وکړه.

---

(182) د تحفة الأحوذي په استناد ٦/ ٣٠

(183) د الممحنة سورت (8)

(184) رواه البخاري، د حديث شميره (٢٦٢٠)،٥/ ٢٣٣

(185) یا اسلام لره بده ګڼونکې وه. د مصطفی البغا تعلیق په بخاري کې٣/ ١٦٤.

امام الخطابي-رحمه الله- ددې حدیث په رڼا کې وايي: د مال په اړوند لکه څنګه چې د مسلمانې سره صله رحمې کیږي همدا ډول يې له کافرې سره هم کولای شي.(186)

لاکن ددې ډول صلې رحمی معنا دا نه ده چې د کافر سره دې مینه او ناسته پاسته وشي؛ ځکه د کافر سره دوستي او مینه کول اګر که پلار او ځوی ولې نه وې ناروا دي، الله -جل جلاله- فرمايي: [لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُولَئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُمْ بِرُوحٍ مِنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ أُولَئِكَ حِزْبُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ](187) ژباړه:داسې یو قوم به ونه مومې چې په الله او آخرت ورځ ایمان لري، (او بیا) له هغه چا سره دوستي کوي چې د الله او د هغه د رسول دښمني يې کړي وي، که څه هم پلرونه، زامن، ورونه یا خپله کورنۍ یې وي.

امام الرازي -رحمه الله- ددې ایت په تفسیر کې داسې وايي ددې ایت معنا داده چې: ایمان او د الله له د ښمنانو سره دو ستي او مینه نه یو ځای کیږي، دا پدې معنا چې یو چا سره دو ستي او مینه د هغه ددشمن سره مینه له منځه وړي.(188)

بلکې صله رحمې له دغو ډوله وګړو سره به داسې ډول وي چې خپل ټول زیار په دې وکړي چې له دوزخ څخه يې وژغوري او جنت یې نږدې کړي،اوکه چیرته ددوي صله رحمې تا دوزخ ته نږدې کوي، او له جنت څخه دې لرې کوي، نو بیا د هغوي سره پریخودل صله رحمې بلل کیږي. ددې په اړوند امام أبي جمره-رحمه الله- وایي: که چیرته کافر یا بد کاره وګړي وي،د خپل ټول توان د وعظ او نصیحت څخه وروسته چې تاثیر پرې ونه کړي نو دهغوي پریخودل صله رحمې بلل کیږي، لاکن هغوي ته دنیکې لارې غو ښتلو دعا کول صله رحمې به ساتې، تر څو سمې لارې ته واپس شي.(189)

---

(186) د فتح الباري په حواله ۵/ ۲۳۴

(187) د المجادلة سورت (22)

(188) التفسیر الکبیر،۲۹/ ۲۷۶

(189) د تحفة الأحوذي په حواله ٦/ ۳۰

## اتم مطلب: د الله -جل جلاله- په لاره کې انفاق او مال لګول:

د الله –جل جلاله- په لاره کې د مال لګولو معنا څه شی ده؟ او آیا کوم دلیل شتون لري چې دا ثابته کړي چې انفاق د روزۍ لاسته راوړلو وسیله ده؟

لومړی: د انفاق معنی:

شیخ ابن عاشور-رحمه الله- د [وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ] (190) په تفسیر کې داسې کاږي: دلته مراد هغه انفاق دی چې په دین کې د رغبت په شکل وي لکه په بیوزلو انفاق،او یا ددین د کومک په ډول وي. (191)

دویم: هغه دلیل چې دا ثابته وي چې د الله په لاره کې انفاق د روزۍ لاسته راوړلو وسیله ده:

بې شمیره دلیلونه د قرآن او سنتو څخه شتون لري چې څوک د الله په لاره کې انفاق کوي، الله ورته په دنیا کې ورته نعم البدل او په اخرت کې ورته ډیر ثوابونه او اجرونه ورکوي، یو څو دلیلونه ستاسو مخې ته راوړم، چې د هغې له جملې څخه:

أ-الله –جل جلاله- فرمایي: [قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَهُ وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ] سورت سبأ(39) ژباړه: ورته ووایه: یقیناً زما رب چاته چې وغواړي روزي پراخوي او (یایې) ورته تنګوي او څه چې تاسو یې (په خیر کې) لګوئ نو هغه (الله) یې بدله درکوي او هماغه تر ټولو ښه روزي ورکونکی دی (39)

حافظ ابن کثیر-رحمه الله- ددې ایت په تفسیر کې وایی: هر څه چې تاسو ته پري امر شوی دی، او درته روا دي خرچ کړی، په دنیا کې الله د هغې عوض درکوي، او په اخرت کې دهغې ثواب او بدله درکوي. (192)

ایت په ښکاره کې دا جوتوي چې د رزق(خرچ) بدله او عوض هم په دنیا او هم په اخرت کې ورکول کیږي. (193)

او امام الرازي-رحمه الله- د نوموړې آیت په تفسیر کې وایي: الله-جل جلاله- زما بادشاه دی،هغه د شتمنیو خزاني لري، او کله چې هغه ووایي: ته یې مصرف کړه زه یې بدل درکوم، د وعدې سره حکم لازم شو، لکه یووګړی چاته ووایي: خپل سامان دې دریاب ته وغورځوه

---

(190) د سبأ سورت (39)

(191) تفسیر التحریر والتنویر ۲۲/ ۲۲۱

(192) تفسیر ابن کثیر ۳/ ۵۹۵

(193) تفسیر التحریر والتنویر ۲۲/ ۲۲۱

تاوان يي پر ما دی. نو هغه چا چې مال خرچ کړ د بدل د لاسته راوړلو شرط يي سرته ورسوو، او که چا مال مصرف نه کړ نو د مال سره له منځه تلل لازم دي، او څه چې بدل لازموي هغه ونه شول-چې خرچ کول دي-نو مال به بدون له بدل څخه ضايع کيږي.

بله نا اشنا خبره داده چې که چيرته يو تاجر په دې پوهه شي چې دده مال په خطر کې دی، که بيوزله هم وي نو په نسيئه بيعه يي خرڅوي[194]، پدې فکر وي چې د مال له منځه تلو څخه دا غوره دي چې پيسې دې وروسته راکړي خو چې مال مې هسې- هلاک نه شي،که د مال له منځه تلو څخه مخکې دا کار ونه کړي،خلک وايي دا خطا شو، او که په همدې وخت کې دا سې يو کفيل پيدا شي چې هغه ښه شتمن وي، او نه يي پرې خرڅوي، نو خلک وايي چې دا ليونی دی. نو له موږ هر يو دا کار کوي لاکن په دې نه پوهيږي چې دا ليونتوب ته نږدې شوی دی،ځکه زموږ مالونه د حقيقي زوال مخې ته پراته دي، او شتمن ضامن هم لرو چې هغه الله -جل جلاله- دی چې فرمايي:[ وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ ]او څه چې تاسو يې (په خير کې) لګوئ نو هغه (الله) يې بدله درکوي.

بيا يي د هر وګړي سره ځمکه،باغ،حمام او يا ددې شيانو منفعت ګرو-ګانه- کړيدي، انسان په صنعت او کار او يا دا سې يوه لاره لري چې د هغې لارې څخه مال لاسته راوړي، او دا ټول د الله ملکيت دی، د انسان په لاس کې د عاريي-امانت- په ډول دي،ددې ټولو سره سره نه نفقه کوي، او همداسې يي پريږدي چې بغير له عوض او بدلې او مننې له منځه لاړشي.[195]

ب- د قرآن کريم په بل ځای کې الله -جل جلاله- داسې فرمايي:[ الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَاءِ وَاللَّهُ يَعِدُكُمْ مَغْفِرَةً مِنْهُ وَفَضْلًا وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ]سورت البقرة (268)

ژباړه: شيطان د نېستۍ وعده درکوي او په ناوړه کارو امر کوي، خو الله له خپله لوري د بخښنې او پېرزوينې وعده درسره کوي او الله پوه دپراخۍ ښښتن دی.

ددې آيت په تفسير کې عبد الله بن عباس-رضي الله عنه- وايي: دوه شيان د الله-جل جلاله- له لورې،او دوه د شيطان له لورې ذکر شوي دي،-د شيطان له لورې-۱- د نېستۍ وعده درکوي،وايي چې: مال دې مه مصرفوه، ويې ساته کله به ورته اړ شي.۲- او په ناوړه کارو امر کوي.او د الله له لورې ۱- د بخښنې،۲- د روزۍ دپېرزوينې وعده ده.[196]

---

(194) نيسئه بيعه هغې بيعې ته وايي چې توکي مخکې ورکړل شي، او پيسي وروسته لاسته راوړل شي.

(195) التفسير الكبير ۲۵/ ۲۶۳

(196) تفسير الطبري ۵/ ۵۷۱، او التفسير الكبير ۷/ ۶۵

او ابن عطية –رحمه الله- ددې آيت په تفسير کې وايي چې : د مغفرت نه مراد په دنيا او اخرت کې په خپلو بندګانو پرده اچول دي، او له فضل څخه مراد په دنيا کې د روزۍ پراخې او په اخرت کې نعمتونه دي، او په دې ټولو الله –جل جلاله- ژمنه کړيده.[197]

او ابن القيم –رحمه الله- ددې آيت په تفسير کې وايي: د–شيطان- د بيوزلۍ وعده له انسان سره دا کوم شفقت او نصيحت نه دی،... هر چې الله-جل جلاله-دی د خپل بنده سره د هغه د ګناهونو د بښلوژمنه کوي،او فضل يي دادی چې د خرچ شوی مال په بدل کې دهغې څو چنده زيات په دنيا کې او يا په دنيا او اخرت دواړو کې بدل او عوض درکړي.[198]

ج- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَا ابْنَ آدَمَ أَنْفِقْ أُنْفِقْ عَلَيْكَ "[199]

ژباړه:له ابوهريره-رضي الله عنه- څخه روايت دی چې نبی –صلی الله عليه وسلم- ته دا روايت رسوي فرمايي چې: الله-تبارک وتعالی- فرمايي: ای د آدم ځويه-انسانه- ته مصرف او خرچ وکړه زه به په تا مصرف او خرچ وکړم.

بنده د الله په لاره کې مصرف اوخرچ کوي، هغه ذات چې د ټولو کائناتو واکمن دی هغه بيا په ده مصرف او خرچ کوي، بنده که د خپل توان اووس په اندازه مصرف کوي،په ده به هغه ذات مصرف وکړي چې د زمکې او اسمانونو واکمن دی. نو ښکاره ده چې دواړه مصرفونه سره توپير لري.

د- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا اللهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا وَيَقُولُ الْآخَرُ اللهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا. (200)

ژباړه: له ابوهريره –رضي الله عنه-څخه روايت دی وايي چې: رسول الله-صلی الله عليه وسلم- فرمايلي دي: داسې ورځ نشته چې بندګان په هغې کې سهار کړي، مګر دوه ملائکې راکوزيږي، يوه له هغو څخه وايي: ای الله! هغه څوک چې انفاق او خرچ کوي په بدل کې يي عوض ورکړي، اوبله ملائکه وايي: ای الله! هغه څوک چې انفاق او خرچ نه کوي له منځه يي يوسه.

---

[197] المحرر الوجيز ٢/ ٣٢٩

[198] التفسير القيم ص١٦٨

[199] صحيح مسلم،د حديث شميره٣٦ (٩٩٣)، ٢/ ٦٩٠

[200] رواه مسلم ٢/ ٧٠٠

په نوموړي حديث کې رسول الله –صلی الله عليه وسلم- ددې خبر ورکوي چې هره ورځ يوه ملائکه هغه چاته د عوض دعا کوي چې مصرف او خرچ کوي. ملاعلي قاري-رحمه الله- د (خلف) معنا ستر بدل او عوض کوي، چې نيک بدل وي.[201]

او السيد محمد رشيد رضا-رحمه الله- وايي: د نوموړې دعا معنا داده چې د الله سنت په دنيا کې دادي هغه څوک چې مصرف او خرچ کوي هغه ته د روزي ګټلو اسباب اسانوي، او د خلکو په زړونو کې يي شان او شوکت اوچتوي، او بخيل انسان بيا له دي صفتونوڅخه محروموي.[202]

دا خبره جوته ده چې د ملائکو دعا قبليږي؛ ځکه هغوي چې چا ته دعا کوي هغه د الله په اجازه په کوي، الله –جل جلاله- فرمايي:[وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضَى وَهُمْ مِنْ خَشْيَتِهِ مُشْفِقُونَ]سورت الأنبياء (28)، ژباړه:او پرته له هغه چا چې د الله ورته رضا وي، بل د هيچا سپارښتن نه کوي او د هغه له هيبته ويرېدونکي دي. نو چې کله سپارښتنه نه شي کولای نو دعا په اولی طريقه نه شي کولای.

د رسول الله –صلی الله عليه وسلم- د سخا په اړوند ډير روايتونه شتون لري، له هغې جملې څخه:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى بِلالٍ، فَوَجَدَ عِنْدَهُ صُبراً مِنْ تَمْرٍ، فَقَالَ:"مَا هَذَا يَا بِلالُ؟"فَقَالَ: تمرًا ادَّخَرْتَهُ لَكَ، فَقَالَ:"وَيْحَكَ يَا بِلالُ، أَمَا تَخَافُ أَنْ يَكُونَ لَهُ بُخَارٌ فِي النَّارِ؟ أَنْفِقْ يَا بِلالُ، وَلا تَخْشَ مِنْ ذِي الْعَرْشِ إِقْلالا.[203]

ژباړه:له ابوهريره –رضي الله عنه- څخه روايت دی چې رسول الله-صلی الله عليه وسلم- بلال باندې ورغی، د هغه سره يي يوه ډيری خرما وليدلې، ويې فرمايل: بلاله دا څه دي؟ ويې ويل: څه خرما مې ستاسو لپاره ساتلي دي، ويې فرمايل: بلاله خوارشي، آيا له دی څخه نه ويريږي چې دا به د جهنم بخار شي؟ بلاله مصرف يي کړه، او د عرش د واکمن له کميدو څخه مه ويريږه.

څومره ستر ضمانت د انفاق کوونکې لپاره!!! آيا څه فکر کوی هغه څوک چې د الله په لاره کې انفاق کوي له بيوزلی به مړ شي؟ نه، هرګيز نه. د (إقلال) معنا ملا علي قاري-رحمه الله-

---

[201] مرقاة المفاتبح 4/ 366

[202] تفسير المنار ۴/ ۷۴

[203] المعجم الكبير ،د حديث شميره(۵۳۲) ۱۹/ ۲۱۷. مشكاة المصابيح,دحديث شميره (۱۸۸۵)۱/ ۵۹۱،شيخ الباني وايي: نوموړی حديث د نورو لارو په وجه صحيح دی. د مشكاة المصابيح هامش ۱/ ۵۹۱

بیوزلې او له منځه تلل کړیده،او بیا زیاتوي چې آیا ته له دینه ویریږي چې د اسمان او ځمکې واکمن به تا ضائع کړي؟ یا ته له دینه ویریږي چې ستا امیدونه به د خاورو سره خاوري او روزې به دې کمه کړي. الله هغه ذات دی چې ټولو مخلوقاتو ته روزې ورکوي، مسلمان او کافر،مرغان او حیواناتو ټولو ته هغه روزې ورکوي (204)

راځی له احادیثو څخه دا سې یوه بیلګه ذکر کړو دا روښانه کړي چې انفاق کوونکې ته په دنیا کې بدل ورکول کیږي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « بَيْنَا رَجُلٌ بِفَلاَةٍ مِنَ الأَرْضِ فَسَمِعَ صَوْتًا فِي سَحَابَةٍ اسْقِ حَدِيقَةَ فُلاَنٍ.فَتَنَحَّى ذَلِكَ السَّحَابُ فَأَفْرَغَ مَاءَهُ فِي حَرَّةٍ فَإِذَا شَرْجَةٌ مِنْ تِلْكَ الشِّرَاجِ قَدِ اسْتَوْعَبَتْ ذَلِكَ الْمَاءَ كُلَّهُ فَتَتَبَّعَ الْمَاءَ فَإِذَا رَجُلٌ قَائِمٌ فِي حَدِيقَتِهِ يُحَوِّلُ الْمَاءَ بِمِسْحَاتِهِ فَقَالَ لَهُ يَا عَبْدَ اللَّهِ مَا اسْمُكَ؟ قَالَ: فُلاَنٌ. لِلاِسْمِ الَّذِى سَمِعَ فِى السَّحَابَةِ فَقَالَ لَهُ يَا عَبْدَ اللَّهِ! لِمَ تَسْأَلُنِى عَنِ اسْمِى فَقَالَ إِنِّى سَمِعْتُ صَوْتًا فِى السَّحَابِ الَّذِى هَذَا مَاؤُهُ يَقُولُ: اسْقِ حَدِيقَةَ فُلاَنٍ لاِسْمِكَ فَمَا تَصْنَعُ فِيهَا؟ قَالَ أَمَّا إِذَا قُلْتَ هَذَا فَإِنِّى أَنْظُرُ إِلَى مَا يَخْرُجُ مِنْهَا فَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثِهِ وَآكُلُ أَنَا وَعِيَالِى ثُلُثًا وَأَرُدُّ فِيهَا ثُلُثَهُ ». (205)

ژباړه: له ابوهریره –رضي الله عنه- څخه روایت دی چې نبي –صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: یو شخص په دشته کې له وریځې څخه اواز واوریده، چې د فلانې باغ اوبه کړه، وریځ یو اړخ ته شوه، اوپه بنجره ځمکه یي اوبه وورولې، بیا دا اوبه په یو لختې کې ټولې یو ځای شوې، بیا یي د اوبو لار تعقیب کړه، -ګورې چې- یو وګړی په خپل باغ کې ولاړ دی، اوبه په بیلچه باندې اړوي، ورته یي وویل: ای د الله بنده! ستا څه نوم دی؟ ویویل: فلانی، هغه نوم چې له وریځې څخ یي اوریدلی و، ویویل: ای عبد الله! زما د نوم پوښتنه ولې کوي؟ ویویل: ما ددې اوبو په وریځ کې اواز واوریده،ویل یي چې: د فلانې باغ اوبه کړه، چې ستا نوم یي اخیستلو، ته په دې باغ کې کومه کړنه ترسره کوي؟ ویویل: ښه نو کله چې تا دا وویل، زه ددې باغ حاصل ته ګورم، دریمه حصه یي خبراتوم، او دریمه حصه زه او اولاد مې خوري، او دریمه حصه په باغ لګوم.

---

(204) مرقاة المفاتيح 489/4

(205) دا روایت په صحیح مسلم کې دی، د حدیث شمیره ۴۵. (۷۶۶۴)،۴/ ۲۲۸۸

امام النووي –رحمه الله- ددې حديث په لاسته راوړونو کې وايي: په نوموړې حديث کې د خيرات فضيلت بيان شوی دی، او د بېوزلو او مسافرو سره نيکي کول، او د خپل لاس د زيار په واسطه روزي خوړل، او په خپلو ماشومانو خرچ کول دي.[206]

## نهم مطلب: په هغو وګړو انفاق کول چې شرعي زده کړو ته يي ځانونه ځانګړي کړيوي. دا هم يو له هغو اسبابو څخه دی چې د انسان روزۍ پرې زاتيږي،

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ، قَالَ : كَانَ أَخَوَانِ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ أَحَدُهُمَا يَأْتِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْآخَرُ يَحْتَرِفُ ، فَشَكَا الْمُحْتَرِفُ أَخَاهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ : لَعَلَّكَ تُرْزَقُ بِهِ .[207]

ژباړه: د انس بن مالک -رضي الله عنه- څخه روایت دی، وایي چې: د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- په وخت -زندګی- کې دوه ورونه و، یو له هغوي به نبي -صلی الله علیه وسلم- ته – د زده کړي لپاره- راتلو، او هغه بل به کار کولو، کار کوونکې د خپل ورور په اړوند نبي -صلی الله علیه و سلم- ته شکایت وکړ، نو ورته یي وفرمایل:کیدای شي چې تاته روزۍ دده په خاطر درکول کیږي.

په نوموړې حدیث کې ر سول الله- صلی الله علیه و سم- هغه چاته چې د خپل ورور چې د پوهې په تالاش کې بوخت، شکایت کوو چې زه یي کورته د روزۍ ګټلو ته ځانته کړی یم،او هغه هیڅ کار نه کوي،ټول مسؤلیت زما تر غاړې دی، په دې فکر کې و چې شرعې زده کړه پریږدي او له ما سره کار او روزګار وکړي، رسول الله –صلی الله علیه وسلم- هغه ته دا خبره روښانه کړه،چې په خپل ورور دې زباتونه نه کوي، پدې ګمان چې زه کار کوم نو روزۍ زما په لاس ده، نه پوهیږي کیدای شي چې الله تعالی ده ته د هغه د ورور چې په علم کې بوخت دی په خاطر روزۍ ورکوي.

---

[206] ) شرح النووي ١٨/ ١١٥

[207] رواه الترمذي،د حديث شميره (٢٤٤٨) ٧/ ٨، او المستدرک على الصحيحين ١/ ٩٣، امام حاکم وايي: د مسلم په شرط نوموړی حديث صحيح دی، ١/ ٩٤، او امام الذهبي هم ورسره موافق دی، التخليص ١/ ٩٤. او شيخ الباني هم ورته صحيح ويلي دي، صحيح سنن الترمذي ٢/ ٢٧٤

ملا علي قاري-رحمه الله- ددې حدیث په شرحه کې وايي چې: د حدیث لفظ (تُرْزَقُ) مجهول صیغه ده،معنا یي امید لرم، او یا دا چې ویریږم پردې چې تاته روزي دده په واسطه درکول کیږي، نه دا چې ستا د کار کولو په وجه، نو ته خپل صنعت په هغه مه زباتوه.[208]

او امام الغزالي-رحمه الله- وايي: هغه څوک چې صدقه او خیرات کوي باید اهل علمو ته یي ورکړي؛ځکه دا کار د علم په ساتلو کې کومک او مرسته کوي، او کله چې په علم او زده کړه کې نیت ښه وي اشرفترین عبادت شمیرل کیږي.[209]

عبد الله بن المبارک-رحمه الله- به چې کله هم د یوخیرات او ښیگڼي کولو نیت وکړ نو اهل علم به یي ځانگړي کول، چاورته وویل: که دا ښیگړه دې عام کړای وی نو ښه به و! ویویل: د نبوت له مرتبې څخه وروسته له علماو پرته نورې مرتبي نه پیژنم. کله چې دهغه زړه په نورو دنیوي څیزونو کې بوخت وي نو بیا به علم او زده کړي ته چمتو نه وي، او علم او پوهې ته د هغوي ځانگړي کول بهتره کار دي.[210]

## لسم مطلب: بیوزلو او محتاجو سره احسان او ښیگڼه کول

بل هغه لامل چې دهغې په وجه انسان ته روزې ورکول کیږي بیوزلو سره ښیگڼه کول دي، نبي کریم-صلی الله علیه وسلم- دا روښانه کړیده چې بندگانوته روزې د هغوي د ناچاره خلکو په وجه ورکول کیږي.

عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: رَأَى سَعْدٌ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ لَهُ فَضْلاً عَلَى مَنْ دُونَهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَلْ تُنْصَرُونَ وَتُرْزَقُونَ إِلَّا بِضُعَفَائِكُمْ»[211]

ژباړه: له مصعب بن سعد څخه روایت دی وايي چې: سعد-رضي الله عنه- دا گمان وکړ چې زما مرتبه په نورو باندې زما د قهرمانۍ او شتمنۍ په وجه لوړه ده، نبي -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: ستاسو کومک او تاسو ته روزې نه درکول کیږي مگر ستاسو د ضعیفو او بیچارو وگړو په خاطر درکول کیږي.

یعني د هغوي له برکته، او د هغوي د دعاگانو په وجه تاسو ته روزې درکول کیږي،او دا ځکه چې د هغوي زړونه او نیتونه پاک وي، او د دنیا د خواهشاتو سره یي رابطه نه وي، د

---

[208] مرقاة المفاتیح 171/9

[209] د تفسیر القاسمي په استناد ۳/ ۲۵۰

[210] لومړی سرچینه عین جز اوصفحه.

[211] رواه البخاري، د حدیث شمیره(۱۰۸)۱۴/ ۱۷۹

عبادت کولو په وخت کې اخلاص پرې برلاسی وي، او ددوی دعاګانې قبليږي نو په دې وجه تاسو ته چې کومه روزي درکول کيږي دا د هغوی په وجه درکول کيږي. نو که څوک غواړي د الله کومک لاسته راوړي، او روزې ورکړل شي، نو د بيوزلو او ضعيفو وګړو دې عزت وکړي او هغو ي سره دې احسان وکړي.

که څوک غواړي چې د حبيب خوږ پيغمبرمحمد-صلی الله عليه وسلم- رضايت لاسته راوړي، نو دا د بيوزلو سره په احسان او نيکی کولو کې نغښتي ده. په يو حديث شريف کې چې ابو الدرداء-رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله –صلی الله عليه و سلم- څخه اوريدلي دي چې هغه وفرمايل: «أَبْغُونِي فِي ضُعَفَائِكُمْ فَإِنَّكُمْ إِنَّمَا تُنْصَرُونَ بِضُعَفَائِكُمْ»[212]

ژباړه: زما خو شحالې او رضايت ستا سو له بيوزلو وګړو له لارې لاسته راوړئ؛ ځکه تا سو سره چې کوم کومک کيږي هغه ستاسو د بيوزلو په خاطر کيږي.

ملا علي قاري -رحمه الله- ددې حديث په شرحه کې وايي چې: زما-د محمد-صلی الله عليه وسلم- رضايت تاسو د خپلو بيوزلو وګړو سره د نيکی او احسان کولو کې ولټوئ.[213]

نو هغه څوک چې د رسول الله- صلی الله عليه و سلم- رضايت بيوزلو ته په لاس رسی کې لټوي نو رب کائنات به يي په خپلو دښمنانو برلاسی کوي، او روزې به يي پراخوي.

## يوولسم مطلب: د الله-جل جلاله- په لاره کې هجرت کول

هجرت کول د روزی لاسته راوړلو ډيره مهمه کيلې ده، او هرڅوک چې د الله په لاره کې د سپيڅلي هجرت په لورې مخه کړي، الله –جل جلاله- به پراخه رزق ورکړي.

د الله په لاره کې هجرت کولو څه مراد دی؟

دليل پردې چې هجرت د روزی له کليګانو څخه دی.

لومړی: د الله په لاره کې هجرت کولو څه مراد دی؟

---

[212] المسند ٥/ ١٩٨، الترمذي، دحديث شميره(١٧٥٤) ٥/ ٢٩١، المستدرک على الصحيحين ٢/ ١٠٦. امام ترمذي وايي: دا حديث حسن او صحيح دی ٥/ ٢٩٢، او امام حاکم هم صحيح کړی دی،او امام الذهبي ورسره موافق دی، التلخيص ٢/ ١٠٦، او شيخ الباني هم صحيح کړی دی،صحيح سنن أبی داود ٢/ ٤٩٢، او سلسلة الأحاديث الصحيحةن، د حديث شميره (779)2 422

[213] مرقاة المفاتيح 84/9

امام الراغب وايي چې: هجرت له داركفر څخه دار اسـلام ته وتل لكه له مكې څخه مدينې ته.[214]

شيخ محمد رشيد رضا وايي چې: هجرت په حقيقت كې د الله د دين قائمول، او دهغه چا سره كومك كول چې د كافرانو له اړخه په هغوي باندې زور زياتى كيږي او په دغه كومك الله خوشحاليږي.[215]

دويم: دليل پردې چې هجرت د روزى له كليگانو څخه دى، الله -جل جلاله- فرمايي: [وَمَنْ يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرَاغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ][216]

ژباړه: او چاچې د الله په لاركې هجرت وكړ نو په ځمكه كې به ډېر د اوسـېدنې ځايونه او پراخي ومومي.

په نوموړي ايت كې دا ذكر شول چې الله هغه چاته چې د هغه په لاركې مهاجر وي او سېدنې ځاى او پراخي وركوي.

امام الرازي ددې ايت د(مراغما) لفظ په تفسير كې وايي چې: هغه څوک چې د الله په لاره كې بل هيواد ته هجرت وكړي،نو په نوموړي هيواد كې به ډېر خير او نعمتونه ومومې،اودا به ددې سـبب شي چې دده د اصـلې دښـمنانو پوزي به په خاورو شي، دا ځكه چې څوک بل هيواد ته لاړ شي او هلته يي كاروبار جوړشي، او دا خبر دده د هيواددښـمنانو ته ورسـيږي نو هغوي به په هغو بدو كړنو زيات پښيمانه شي چې له ده سره يي كول.[217]

او د (سـعة) څخه مراد د روزى براخې ده، دا د عبد الله بن عباس-رضي الله عنهما- ،الربيع ،الضحاک،عطاء او دجمهورو علماو مذهب دى.[218]

او قتاده -رحمه الله- وايي چې د (سعة) څخه مراد د گمراهى او ضلالت د تنگدستى څخه د هدايت، او بيوزلى څخه د شـتمنى پراخوالى دى.[219] ، او امام مالک -رحمه الله- بيا د هيواد براخې وايي.[220]

---

[214] المفردات في غريب القرآن، (۵۳۷)صفحه، او تحرير ألفاظ التنبيه ص۳۱۳، او كتاب التعريفات ص۲۷۷

[215] تفسير المنار ۵/ ۳۵۹

[216] د النساء سورت (۱۰۰)

[217] التفسير الكبير ۱۱/ ۱۵، او تفسير القاسمي ۵/ ۴۰۷

[218] زاد المسير ۲/ ۱۷۹،او روح المعاني ۵/ ۱۲۷، او تفسير المنار ۵/ ۳۵۹، او أيسر التفاسير ۱/ ۴۴۵

[219] تفسير القرطبي ۵/ ۳۸۴، او تفسير ابن كثير ۱/ ۵۹۷

[220] تفسير القرطبي ۵/ ۳۸۴، او روح المعاني ۵/ ۱۲۷

امام قرطبي -رحمه الله- د امام مالک د وینا په تعلیق کې وایي چې: د عربانو د فصاحت سره همدا قول مناسب دی، ځکه چې د رزق پراخې، او غمونو او فکرونو لپاره د سینې پراخې او نوري د خلاصې لاري د ځمکې پراخوالی پوري تړاو لري.[221]

په هر حال هره وینا چې موجه وي، مهاجر ته د الله -جل جلاله- وعده داده چې د هغه روزې به پراخه وي، که هغه د مستقیمي لارې د رزق زیاتوالی وي، او یا غیر مستقیمي لارې څخه وي.

او د الله ددې وعدې پوره کول له چا څخه پټه نه ده، بلکې دا په نړۍ کې ډیره تجربه شوې ده چا چې په پاک نیت هجرت کړی وي، او دالله لپاره یي کور پریښی وي، او دکافرانو د زور زیاتي څخه یي هجرت کړی وي، نو الله -جل جلاله- د هغه سره کومک کړی دی، او روزې ورله پراخه کړیده. او څوک چې په تاریخ کې لږه مطالعه هم لري، نو د مسلمانانو هجرت له مکې څخه مدینې ته له چا څخه پټ نه دی، کله چې هغوي کورونه، مالونه او نور سامانونه پریښودل الله -جل جلاله- ورله د شام، فارس او یمن غوندي هیوادونه مسخر کړل، او د شام او مداین ماڼیو واکداران یي جوړ کړل،

امام الرازي د تیر ایت په خلاصه کې وایي: حاصل دا چې: ای انسانه! که ته له دینه ویرېږې چې د هیواد پرخودل به ما له ستونزو سره مخامخ کړي نو مه ډارېږه، ځکه الله -جل جلاله- به لوي نعمتونه در باندې وکړي، او لوړي مرتبې به درکړي، او ستا د دښمنانو پوزې به په خاروککړي کړي، او دا به ستا د روزۍ د پراخۍ سبب او وسیله شي.[222]

## دولسم مطلب: د الله -جل جلاله- د نعمتونو شکر او مننه کول

بل هغه سبب چې د انسان روزې پرې زیاتیږي په هر حالت کې د الله د نعمتونو شکر ویستل دي، شکر څه ته وایي؟ او دلیل یي څه شی دی؟

د شکرلغوي معنا: (شُكْر) عربي کلمه ده چې اصل یي (ش ک ر) خودل شوی دی، معنایي د پیرزونکی ښه ویل اوستایل، او د احسان منلو ته وایي.

او په لغوي لحاظ همدا ډول شکر د حیوان په بدن کې د ونو اثر لیدلو ته هم وایي، ویلای شو چې شکر ثنا او صفت ویلو ته هم وایي، او په لږو راضي کیدل او روښانه کولو په معنا هم راغلی دی.

---

(221) تفسیر القرطبي ۵/ ۳۴۸

(222) التفسیر الکبیر ۱۱/ ۱۵

جرجاني -رحمه الله- وايي چې: شکر په لغوي لحاظ د ژبې،زړه او د بدن د غړو په واسطه د يو نعمت بې دريغه لوی توصيف او ستايلو ته ويل کيږي.[223]

د شکر اصطلاحي معنا: د شکر په اصطلاحي تعريف کې مختلف تعبيرات راغلي دي، زبيدي په خپل کتاب تاج العروس کې ذکر کړي دي:

داسې ويل شوي دي چې شکر په عاجزانه ډول د منعم د نعمت اعتراف ته ويل کيږي.

بل قول: د احسان کوونکې احسان ستايلو ته ويل کيږي، بنده د الله شکر ادا کوي، معنا د هغه د احسان مننه کوي، او الله په بنده ثنا وايي معنا د هغه احسان قبلوي چې عبارت د هغه طاعات دي.

بل قول: په زړه له منعم سره مينه لرل، او په اندامونو د هغه اطاعت کول او په ژبه د هغه ثنا او صفت کولو ته شکر وايي. چې ديته دري اړخيز شکر او ستايل ويل کيږي.

شبلي بيا د شکر په تعريف کې ويلي دي چې: شکر د نعمت ليدلو ته نه بلکې د منعم ليدلو ته وايي، ددې معنا داده چې د نعمت ليدل ددې باعث نشي– چې حقيقي منعم ترينه هير شي.

او داسې هم ويل شوي دي چې: شکر د موجوده نعمتونو قيدول،او د ورک شوو نعمتونو د ښکار کولو په تکل کې وي.[224]

شيخ جرجاني بيا شکر په دوه ډوله ښايي: عرفي شکر او لغوي شکر، د عرفي شکر په اړه داسي وايي: ټول هغه نعمتونه چې الله په انسان کړي دي هغه څه ته ځانګړي کړي چې د هغې لپاره پيدا شوي دي، لکه اوريدل،ليدل او داسي نور.[225]

علامه ابن القيم وايي: شکر په ژبه د نعمت د اثر ښکاره کول د ثنا او صفت بيانولو له لارې، او ورسره مينه او محبت لرل د زړه له لارې ، او په اندامونو د طاعت او فرمانبرداری له لارې.[226]

محمد سيد الطنطاوي وايي: شکر د الله په نعمتونو اعتراف کول، او په هغه ځاينو کې يي استعمالول چې شريعت يي لارښوونه کړي ده.[227]

آيا کوم دليل شتون لري چې دلالت پردې وکړي چې شکر ويستل هم د روزی د زياتيدو لامل کيږي؟

---

(223) التعريفات1/ 169

(224) تاج العروس1/ 3025

(225) التعريفات1/ 168.

(226) مدارج السالکين 2/ 244

(227) التفسير الوسيط د محمد سيد الطنطاوي ١/ ٢۴٠٨

الله -جل جلاله- فرمايي: [وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ] [228]
ژباړه: او کله چې خپل رب مو خبردار کړئ چې که شکر مو وويستو نو خامخا به (نعمتونه) در زيات کړم، او که ناشکري مو وکړه نو يقيناً زما عذاب ډېر سخت دی.

د شکر پايله د روزۍ زياتيدل، او د ناشکرۍ پايله عذاب خودل شوی دی.

محمد سـيد الطنطاوي وايي: چې الله د ناشـکره تعبير په کافر سره کړی دی، ځکه چې د کافر او ناشکره په منځ کې د شباهت وجې دي: کافر له الله څخه منکر وي، او ناشکره د الله له نعمتونو څخه منکر وي، نو په کفر کې دواړه سره برابر دي، او هغه څوک چې الله پيژني او له نعمتونو څخه يي انکار کوي دده کفر د هغه په اړوند ډېر سـخت وي چې هيڅ الله نه پيژني، الله دې مونږ له شکر گزارانو څخه وشميري. [229]

عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَائِلٌ، فَأَمَرَ لَهُ بِتَمْرَةٍ، فَوَحَشَ بِهَا، ثُمَّ جَاءَ سَائِلٌ آخَرُ، فَأَمَرَ لَهُ بِتَمْرَةٍ، فَقَالَ: سُبْحَانَ اللَّهِ، تَمْرَةٌ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْجَارِيَةِ: «اذْهَبِي إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ، فَأَعْطِيهِ الْأَرْبَعِينَ دِرْهَمًا الَّتِي عِنْدَهَا» [230]

د حديث ژباړه: د أنس بن مالک-رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې: رسـول الله – صـلی الله عليه وسـلم- ته يو سـوالگر راغی، امر يي وکړ چې يوه خرما ورته ورکړئ، هغه يي گزاره کړه، بيا يو بل سـوالگر راغی، امر يي وکړ چې خرما ورته ورکړئ، ويويل: سـبحان الله- پاکي ده الله لره- د رسول الله له اړخه خرما!!! رسول الله وينزې ته وويل چې: ام سلمې ته لاړه شه، او هغه څلويښت درهمه چې د هغې سره دي دې-سوالگر- ته يي ورکړه.

## دیارلسم مطلب: دعا کول او له الله-جل جلاله- څخه غوښتل

بل هغه سبب چې د انسان روزۍ پرې زياتيږي په هر حالت کې د الله-جل جلاله- څخه غوښتل او دعا کول.

بله هغه لاره چې انسان پرې رزق لاسته راړي دعا کول له الله -جل جلاله- څخه غوښتل دي؛ ځکه الله د بې وزلو ستونزې حلوي، ا د هغوي فرياد اوري، الله-جل جلاله- فرمايي: [أَمَّن

---

([228]) **د إبراهيم سورت (7)**

([229]) **أوضح التفاسير ۱/ ۳۰۵**

([230]) **مسند أحمدبن حنبل، دحديث شميره (۱۳۷۳۱)۲۱/ ۲۷۵،شعيب الأرنووط ددي حديث سند ضعيف خودلی دی، لاکن په متابعاتو او شواهدو کې اعتبار لري.هامش المسند ۲۰/ ۳٦**

يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاء الْأَرْضِ أَإِلَهٌ مَّعَ اللَّهِ قَلِيلاً مَّا تَذَكَّرُونَ (231)}

ژباړه: یا هغه څوك دی چې د بې وسه دعا قبلوي كله چې راویې بلي او هغه كړاو لرې كوي او تاسې د ځمكې خليفه ګان ګرځوي. آیا الله سره كوم بل معبود شته؟ تاسې ډېر لږ نصيحت منئ.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (مَنْ نَزَلَتْ بِهِ فَاقَةٌ فَأَنْزَلَهَا بِالنَّاسِ لَمْ تُسَدَّ فَاقَتُهُ، وَمَنْ نَزَلَتْ بِهِ فَاقَةٌ فَأَنْزَلَهَا بِاللَّهِ، فَيُوشِكُ اللَّهُ لَهُ بِرِزْقٍ عَاجِلٍ أَوْ آجِلٍ)(232)

ژباړه: له عبد الله بن مسعود څخه روایت دی چې رسول الله-صلی الله علیه وسلم فرمایي: په چاچې ولږه راشي او خلكو ته مخه كړي، ولږه به یې ختمه نشي، او كه په چا راشي اوالله ته مخه كړي، نزدې ده چې الله ورته سمدلاسه او یا ورته په لږ ځنډ سره رزق وركړي.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: دَخَلَ رَسُولُ صَلَّى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ الْمَسْجِدَ، فَإِذَا هُوَ بِرَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، يُقَالُ لَهُ: أَبُو أُمَامَةَ، فَقَالَ: «يَا أُمَامَةَ، مَا لِي أَرَاكَ جَالِسًا فِي الْمَسْجِدِ فِي غَيْرِ وَقْتِ الصَّلَاةِ؟»، قَالَ: هُمُومٌ لَزِمَتْنِي، وَدُيُونٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: «أَفَلَا أُعَلِّمُكَ كَلَامًا إِذَا أَنْتَ قُلْتَهُ أَذْهَبَ عَزَّ وَجَلَّ هَمَّكَ، وَقَضَى عَنْكَ دَيْنَكَ؟»، قَالَ: قُلْتُ: بَلَى، يَا رَسُولَ، قَالَ: " قُلْ إِذَا أَصْبَحْتَ، وَإِذَا أَمْسَيْتَ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ، وَقَهْرِ الرِّجَالِ "، قَالَ: فَفَعَلْتُ ذَلِكَ، فَأَذْهَبَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ هَمِّي، وَقَضَى عَنِّي دَيْنِي)[233]

ژباړه: له ابو سعيد خدري څخه روایت دی وایي چې: یوه ورځ رسول الله -صلی الله علیه وسلم- جمات ته ننوت، د انصارو یو وګړی یې ولید چې ابو امامه یې نوم و، ویفرمایل: ای ابو امامه! څه وجه ده چې د مانځه وخت نه دی او په جمات كې دي وینم؟ ویویل: ای د الله رسوله! غمونه او قرضونه راباندې امبار دي، ویفرمایل: آیا دا سې خبره درته ونه وایم چې هغه ووایې الله به دې غمونه له منځه یوسې او قرضونه

---

[231] د النمل سورت (62)

[232] ) رواه الترمذي ۴/ ۱۴۱، د حديث شميره(۲۳۲٦)، امام ترمذي وايي: دا حديث حسن،صحيح او غريب دی.او شيخ الباني وايي: صحيح دی مګر د (إِمَّا بِمَوْتٍ عَاجِلٍ، أَوْ غِنًى عَاجِلٍ په لفظ سره). صحيح أبي داود،د حديث شميره( 1452)، او په سلسلة الأحادث الصحيحة كې يې شميره( 2787) ده.

[233] ) رواه أبوداود ۲/ ۹۳،د حديث شميره(۱۵۵۵). شيخ شعيب الأنووط وايي چې: د حديث سند كمزوری دی؛ ځكه په سند كې يي (غسان بن عرف المازني) دی، پوهانو كمزوری بللی دی.

به دې ختم کړي؟ ما وویل: ولې نه اى د الله رسوله، ویفرمایل: هر سهار او بیگا محال دا وایه چې: اى الله زه د غم او خفگان څخه تاته پناه دروړم، او د عاجزۍ او سستی څخه هم پناه دروړم، او هم له ډار او بخل څخه، او د قرضونو له زیاتیدو او د خلکو له غوسې څخه هم تاته پناه دروړم، وایي چې دا کار مې وکړ، الله له ما څخه غمونه لرې کړل، او قرضونه یې راته ختم کړل.

جوته شوه چې د دعا په واسطه د انسان په روزۍ کې بدلون راتلای شي، او د انسان ډیرې ستونزې پرې حل کیږي.

عَنْ أَبِي ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِيمَا رَوَى عَنِ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَّهُ قَالَ: «يَا عِبَادِي إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي، وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا، فَلَا تَظَالَمُوا، يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلَّا مَنْ هَدَيْتُهُ، فَاسْتَهْدُونِي أَهْدِكُمْ، يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ جَائِعٌ، إِلَّا مَنْ أَطْعَمْتُهُ، فَاسْتَطْعِمُونِي أُطْعِمْكُمْ، يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ عَارٍ، إِلَّا مَنْ كَسَوْتُهُ، فَاسْتَكْسُونِي أَكْسُكُمْ...)[234]

ژباړه: ابوذر له نبي -صلى الله علیه وسلم- څخه روایت کوي چې هغه له الله څخه روایت کوي فرمایي: اى زما بندگانو ما په خپل ځان ظلم حرام کړیدی، او ستاسو په منځ کې مې هم حرام گرزولی دی، نو په خپل منځ کې ظلم مه کوئ، اى زما بندگانو تاسو ټول بې لارې یاستی مگر هغه چاته چې ما لاره وخودله، له ما څخه د هدایت غوښتنه وکړئ زه به تا سو ته هدایت وکړم، اى زما بندگانو تا سو ټول وږي یا ستی مگر هغه چاته چې زه ډوډۍ ورکړم، له ماڅخه رزق وغواړئ چې زه روزي درکړم، اى زما بندگانو تاسو ټول لوڅ یاستی مگر هغه چاته چې زه جامې ورواغوندم، له ما څخه جامې وغواړئ چې زه جامې درکړم.

نو د دعا په واسطه باید انسان له الله څخه د نورو ضرورتونو سره حلاله روزۍ وغواړي الله به ورته ورکړي.

---

[234] ) رواه مسلم ۱۹۹۴/۴، د حدیث شمیره (۲۵۷۷).

# (خاتمه)

ثنا او صــفت هغه ذات لره چې ما بې وزله بنده ته يې ددې توفيق راکړ چې دا څېړنه سرته ورسوم، او د الله -جل جلاله- له دربار څخه غواړم چې دا ضعيفه څېړنه په خپلې عفوې او کرم سره قبوله کړي، د څېړنې لاسته راوړنې په لاندې ډول دي:

په الله -جل جلاله- او د هغه په مامور به شــيانو ايمان لرلو باندې د انســان روزي زياتيږي.

استغفار او توبه د روزۍ د لاسته راوړلو مهمه وسيله ده، او بايد په وينا او کړنه دواړو کې ثابت شي.

بله وسيله تقوا ده، د نفس کنټرول ته وايي، او يا د الله د اوامرو پلي کول، او له منهياتو څخه يې ځان ژغورلو ته وايي، او يا دنفس ژغورل له هغه څه څخه چې د عذاب سبب ګرځي.

د الله عبادت ته ځانګړنه، په دې معنا چې د الله عبادت ته زړه فارغول.

حج او عمره پرلپسې ډول ادا کول.

صله رحمې پالل، يعنې خپلوانو سره احسان او نيکي کول.

د الله په لاره کې صــدقه کول، په هغه ځايونو کې چې هغه پرې خوشــحاليږي، په ځانګړي ډول په هغه چا چې دينې علومو ته يې ځان وقف کړی وي.

بې وزلو خلکو سره احسان او نيکې کول.

د الله په لاره کې له دار کفر څخه دار ايمان ته هجرت کول يواځې د الله د رضا لا سته راوړلو په خاطر.

د توکل معنا دا نه ده چې انســان دې سـعي او تالاش نه کوي، بلکې کوښــښ مطلوب دی.

صله رحمې په مال پورې منحصره نه وي، بلکې د امکان په صورت کې خپلوانو ته هر خير رســول، او له هغوي څخه هر شر لرې کول صــله رحمې ده، او ګناهکارانو سره د صــله رحمۍ معنا دا نه ده چې د هغوي سره دې مينه او محبت وشي، بلکې د هغوي له ګناه نه منعه کول صله رحمې ده.

د الله -جل جلاله- د نعمتونو شکر او منته کول،

شکر په ژبه د نعمت د اثر ښکاره کول د ثنا او صفت بیانولو له لارې، او د زړه له لارې ورسره مینه او محبت لرل ، او په اندامونو د طاعت او فرمانبردارۍ لاره خپلول.

شکر د الله په نعمتونو اعتراف کول، او په هغه ځاینو کې یې استعمالول چې شریعت یې لارښوونه کړې ده.

د ټولو مسلمانانو ورونو څخه هیله لرم چې د روزۍ لاسته راوړلو هغه لارې تعقیب کړي کومې لارې چې مونږ ته شریعت روښانه کړې دي، او له هغه لارو څخه ځانونه وژغورو کومې لارې چې د نن سبا واکمنو هیوادونو په مونږ تپلې دي، ځکه ټول خیر په هغه څه کې دی چې الله او د هغه رسول مونږ ته ښودلې دي، او ټول شر په هغه څه کې دی چې څوک له هغوې څخه مخ اړوي، الله –جل جلاله- فرمایي: [يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ] سورت الأنفال (24)، ژباړه: اې مؤمنانو! دالله او رسول بلنه منئ کله چې تا سو هغه څه ته بلي چې ژوندي کوي مو، او پوه شئ چې الله د انسان او دهغه د زړه ترمینځ پرده کیږي او د هماغه لورته به تاسو ورغونډکړی شئ.

او په بل ځای کې الله –جل جلاله- فرمایي:[ وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى (124) قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِي أَعْمَى وَقَدْ كُنْتُ بَصِيرًا (125) قَالَ كَذَلِكَ أَتَتْكَ آيَاتُنَا فَنَسِيتَهَا وَكَذَلِكَ الْيَوْمَ تُنْسَى (126) سورت طه، ژباړه: او څوك چې زما له ذکره مخ واړوي، دهغه دپاره تنګ ژوند دی او د قیامت په ورځ به یې ړوند راپاڅوو (124)بیا به وایي زما ربه ولې دې ړوند راپاڅولم زه خو سترګور وم (125)الله به وفرمایي: همدغه شان زمونږ اّیتونه تاته راغلي ؤ خو هېر دې کړل او همداسې به نن ته هم هېرېږې (126)

و صلی الله تعالی علی نبینا محمد و علی آله و أصحابه وأتباعه و من سار علی نهجه واستن بسنته إلی یوم الدین, وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمین.

# مصادر او مراجع


1. قر آن کریم.
2. الإحسان في تقريب صحيح ابن حبان، د علاء الدين الفارسي ليکنه،د مؤسسة الرسالة بيروت چاپ،لومړی طبعه ۱۴۰۸هـ کال، تحقيق الشيخ شعيب الأرنؤوط.
3. أحكام القرآن،د امام أبي بكر بن العربي ليکنه، د دار المعرفة بيروت چاپ، د چاپ شميره او کال څخه پرته‌د الا ستاد محمد البجاوي تحقيق.
4. إحياء علوم الدين، د أبي حامد الغزالي ليکنه،د دار المعرفة بيروت چاپ،۱۴۰۳ـ کال.
5. أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن،د علامه محمد أمين الشنقيطي ليکنه، د امير احمد بن عبد العزيز آل سعود په نفقه چاپ شوی، دچاپ کال يي ۱۴۰۳هـ
6. تحفةالأحوذي شرح جامع الترمذي، ی شيخ عبد الرحمن المباركفوري ليکنه، د دار الكتب العلمية بيروت چاپ، لومړی ۱۴۱۰هـ
7. تفسير التحرير والتنوير د استاد محمد طاهر بن عاشور ليکنه، د الدار التونسيه چاپ، ۱۹۸۴م کال.
8. تفسير الطبري (جامع البيان من تأويل آي القرآن) د امام ابي جعفر الطبري تفسير، د دار المعارف مصر– چاپ، پرته د چاپ له شميري او تاريخ څخه. تحقيق د محمود محمد شاكر او احمد محمد شاكر.
9. تفسير القرطبي چې په (الجامع لأحكام القرآن) باندې مشهور دی، د امام ابي عبد الله القرطبي تفسير،د دار إحياء التراث العربي چاپ، پرته د چاب شميره او کال څخه.
10. التفسير القيم، د امام ابن القيم تفسير، د دار الفكر بيروت چاپ،کال ۱۴۰۸هـ، شيخ محمد اويس الندوي راجمع کړی دی،ا شيخ و محمد حامد الفقي تحقيق کړی دی.
11. التفسير الكبير چې په مفاتيح الغيب باندې مشهور دی، امام فخر الدين رازي تفسير، دار الكتب العلميه تهران چاپ، دويم چاپ، پرته له کال.
12. تفسير ابن كثير چې په تفسير القرآن العظيم باندې مشهور دی، د حافظ ابن كثير تفسير، دار الفيحاء دمشق او دار السلام الرياض چاپ، لومړی چاپ کال ۱۴۱۳هـ.

13. تفسير المنار، د سيد محمد رشيد رضا ليكنه، دار المعرفه بيروت چاپ، دويم چاپ له كال پرته.
14. التلخيص (چې د المستدرک علی الصحيحين سره يوځای ليكل شوی دی) د حافظ ذهبي كتاب، ناشر يي دار الكتب العربي بيروت، د چاپ او كال شميري پرته.
15. جامع الترمذي (چې دتحفة الأحوذي سره يو ځای چاپ دی) د امام ابي عيسى محمد بن عيسى كتاب، دار الكتب العلميه بيروت چاپ، لومړی چاپ كال ۱۴۱۰هـ
16. حاشية الإمام السندي علی سنن النسائي، ی شيخ ابي الحسن سند] كتاب، دار الفكر بيروت چاپ، لومړی چاپ ۱۳۴۸هـ
17. روح المعاني، دعلامه محمود الألوسي تفسير، د دار احياء التراث العربي بيروت چاپ، څلوم چاپ ۱۴۰۵هـ كال.
18. رياض الصالحين، د امام النووي ليكنه، د مؤسسة الرسالة بيروت چاپ، پنځم چاپ ۱۴۰۵هـ كال، د شعيب الأرنووط تحقيق.
19. زاد المسير في علم التفسير، د امام ابن الجوزي تفسير، المكتب الإسلامي بيروت چاپ، لومړی چاپ ۱۹۸۴م كال.
20. سلسلة الأحاديث الصحيحة، د شيخ محمد ناصر الدين الألباني ليكنه، د المكتبة الإسلامية عمان او الدار السلفية الكويت چاپ، لومړی چاپ ۱۴۰۳هـ كال.
21. سنن أبي داود (د عون المعبود سره چاپ شوی) د امام سليمان بن الأشعث السجستاني كتاب، د دار الكتب العلمية بيروت چاپ، لومړی چاپ ۱۴۱۰هـ كال.
22. سنن ابن ماجةد امام أبي عبد الله محمد بن يزيد القزويني ابن ماجة كتاب، د شركة الطباعة العربية السعودية چاپ، دويم چاپ ۱۴۰۴هـ كال، د محمد مصطفی الأعظمي تحقيق.
23. سنن النسائي (د سيوطي د شرح او د سندي د حاشي سره چاپ) د امام أبي عبد الرحمن أحمد بن شعيب النسائي كتاب، د دار الفكر بيروت چاپ، لومړی چاپ ۱۳۴۸هـ كال.
24. شرح السنة، د امام بغوي كتاب، د المكتب الإسلامي بيروت لومړی چاپ ۱۳۹۰هـ كال.

25. شرح النووي على صحيح مسلم، د امام النووي كتاب، د دار الفكر بيروت چاپ ۱۴۰۱هـ كال.
26. صحيح البخاري ( د بخاري سره چاپ شوى ) د محمد بن اسماعيل البخاري كتاب، نشر او توزيع د الرئاسة العامة للإدارات والبحوث العلمية والإفتاء والدعوة والإرشاد الرياض، پرته د چاپ له شميري او كال.
27. صحيح سنن الترمذي، د شيخ محمد ناصر الدين الألباني غوراوى، د مكتب التربية العربي لدول الخليج الرياض خپراوى، لومړى چاپ ۱۴۰۹هـ كال.
28.
29. صحيح سنن أبي داود، د شيخ محمد ناصر الدين الألباني غوراوى، د مكتب التربية العربي لدول الخليج الرياض خپراوى، لومړى چاپ ۱۴۰۹هـ كال.
30. صحيح سنن ابن ماجة، د شيخ محمد ناصر الدين الألباني غوراوى، د مكتب التربية العربي لدول الخليج الرياض خپراوى، دريم چاپ ۱۴۰8هـ كال.
31. صحيح سنن النسائي، د شيخ محمد ناصر الدين الألباني غوراوى، د مكتب التربية العربي لدول الخليج الرياض خپراوى، لومړى چاپ ۱۴۰۹هـ كال.
32. صحيح مسلم، د امام مسلم بن الحجاج القشيري كتاب، نشر او توزيع د الرئاسة العامة للإدارات والبحوث العلمية والإفتاء والدعوة والإرشاد الرياض، د چاپ كال ۱۴۰۰هـ، د شيخ محمد فؤاد عبد الباقي تحقيق.
33. عمدة القاري، شرح صحيح الباري، د علامه بدر الدين العيني كتاب، د دار الفكر بيروت چاپ، پرته د چاپ او كال شميري څخه.
34. عون المعبود، شرح سنن أبي داود، د علامه أبي الطيب العظيم آبادي كتاب، د دار الكتب العلمية بيروت چاپ، لومړى چاپ ۱۴۱۰هـ كال.
35. فتح الباري، شرح صحيح البخاري، دحافظ ابن حجر كتاب، د الرئاسة العامة نشر او توزيع الرئاسة العامة للإدارات والبحوث العلمية والإفتاء والدعوة والإرشاد الرياض، د چاپ او كال شميري پرته.
36. فتح القدير، د امام محمد بن علي الشوكاني كتاب، توزيع: المكتبة التجارية مكة المكرمة، د چاپ او كال له شميري پرته.

37. فيض القدير، شرح الجامع الصغير، د علامه محمد چې په عبد الرؤوف المناوي مشهور دی، د دار المعرفة بيروت چاپ، د چاپ او کال شميري پرته.
38. القاموس المحيط، د علامه مجد الدين الفيروزآبادي كتاب، د المؤسسة العربية للطباعة والنشر بيروت چاپ، د چاپ او کال شميري پرته.
39. كتاب التعريفات، د علامه جرجاني كتاب، د مكتبة لبنان بيروت چاپ،١٩٨٥م
40. الكشاف عن حقائق التنزيل و عيون الأقاويل في وجوه التأويل، د علامه أبي القاسم الزمخشري كتاب، د دار المعرفة بيروت چاپ، د چاپ او کال شميري پرته.
41. المحرر الوجيز في تفسير الكتاب العزيز، د قاضي ابن عطية الأندلسي- كتاب، د چاپ او کال شميري پرته.
42. المستدرك على الصحيحين، د امام أبي عبد الله الحاكم كتاب، دار الكتاب العربي بيروت، د چاپ او کال شميري پرته.
43. المسند، د امام أحمد بن حنبل كتاب، د دار المعارف مصر- چاپ، دريم چاپ، د شيخ أحمد محمد شاكر تحقيق.
44. مشكاة المصابيح، د شيخ محمد بن عبد الله الخطيب التبريزي كتاب، ی المكتب الإسلامي بيروت چاپ، دويم چاپ ١٣٩٩هـ، د شيخ محمد ناصر الدين الألباني كتاب.
45. المفردات في غريب القرآن، د امام راغب اصفهاني كتاب، د دار المعرفة بيروت چاپ، له چاپ او کال شميرې پرته.
46. النهاية في غريب الحديث والأثر، د امام ابن الأثير ليكنه، ناشر يي المكتبة الإسلامية بيروت چاپ، له کال پرته.
47. هامش الإحسان في تقريب صحيح ابن حبان، د شيخ شعيب الأرنووط ليكنه، د مؤسسة الرسالة بيروت چاپ، لومړی چاپ ١٤٠٨هـ کال.
48. هامش مشكاة المصابيح، د شيخ محمد ناصر الدين ليكنه، د المكتب الإسلامي بيروت چاپ، دويم چاپ ١٣٩٩هـ کال.